



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوزخ په انسان کې

د لنډو کیسو ټولګه

لیکوال: محب الله زغم

خپرندوی: د افغانستان قلم ټولنه ۱۳۸٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځانمرګی

_ ډاکتر صایب ! هله تلوار وکه،

_ اوهو حاجي ملا صایب! خیریت خو به وي؟

_ خبره له خیریت نه تېره ده. کوچنیان مې درته راوستلي. هله ژر کوه چې مري.

ډاکتر حاجي ملا سره په بېړه روان شو. ناروغه په یوې بړستن کې ننغاړل شوې د کتنځي پر غولي پرته وه. ناروغه یې د حاجي ملا او د هغه د مور په مرسته پر مېز پورته کړه. د هغې رنګ تک سپین اوښتی و. سترګې یې پټې وې. خبرې یې نه شوای کولی. د شونډو سره یې ورک وو. ورو ورو یې سا کښله. ګوندي د سا ایستلو توان یې هم نه درلود.

ډاکتر د هغې نبض او فشار وکوت خپل ستاتسکوپ یې د هغې پر سینه دې خوا هاخوا وګرځاوه. لابراتوار والا یې مرستې ته وروباله او ورته ویې ویل: مریضه ډېره کمخونه ده. نه نبض لري، نه فشار. ته یې وینه واخله. هیموګلوبین یې وګوره. زه به ورته یو پلازما سیروم ولګوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لابراتوار والا په ډېرې سختۍ سره د ناروغې په يوه لاس کې يـو رګ پيدا کړ. پلاستيکي ستن يې ورولګوله. په بمبه کـې يـې نيمـه سي سي وينـه ترېنـه واخيسـته. ډاکـتر ورتـه سـيروم ولګـاوه. څـو پيچکارۍ يې هم ورګډې کړې.

ډاکتر وپوښتل:

ـ حاجي ملا صايب په دې باندې څه شوي دي؟ دا خو له وينو بيخي خلاصه ده.

ـ داسې ده چې وړمه ورځ نه، لات وړمه ورځ يـې کـوچنی پيـدا سو. بيا يې وينه نه ګيرېدله. وينه دغسې ترېنـه تللـه. برايـې بيـا د نمونې يوه ټوټه شېوه سوه. اوس يې وينه ګير سوې خو دا يـې هـم له پښو غورځولې ده.

ـ نو ولې دې وختې نه راوستله؟

ـ ما وې خدای به ښه کړي.

ـ داسې کارونه کوئ. مريض چې ښه لـه کـاره وباسـئ بيـا يـې ډاکتر ته بيايئ.

په دې وخت کې لابراتوار والا کاغذ په لاس راغی او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ هیموګلوبین یې درې ګرامه دي.

ـ هو ما هم همداسې اټکل کړی و چې همدومره به وي.

حاجي ملا وپوښتل: ایموګولبین څه شی دی؟

ـ د وینې ډېره مهمه برخه ده. سړی په همدې بانـدې ژونـدی وي. درې ګرامه خو ډېر کم دي.

ـ نو څومره باید وي؟

ـ تر دوولسو پورته.

ـاوس یې نو چاره څه ده؟

ـ بله چاره نه لري. چاره یې بس دا ده چې وینه ورته ورکړئ.

ـ څوک؟ زه؟

ـ ته یا بل څوک. د هر چا وینه چې ورسره سازه شي.

ـ زه خو وینه نسم ورکولی. وړم کال ټپــي سـوی وم. ډېـره وینـه رانه تللې وه. اوس هم مریض یم.

ـ ته د وړم کال خبره اوس کوې؟ اول خـو سـتا وینـه بـه دومـره وخت کې بېرته پوره شوې وي او بیا موږ چې له هر چا وینـه اخلـو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول يې ښه معاينه کوو چې کومه ناروغي ونه لري يا ترې وينه اخيستل ورته تاوان ونه کړي.

د حاجي ملا مور هم په دې خبرو ځان ورګډ کړ: نه، نه ډاکتر صايب! پام کوه چې زما د زوی وينه وانخلې.

ـ ولې مورې دا نو کوم تاوان لري؟

ـ څنګه تاوان نه لري؟ دا د پوجيو وخت وګوره او وينه اخيستل وګوره.

ـ ګوره ادې ورته هېڅ تاوان نه لري. وينه يې بېرته په دريو مياشتو کې پوره کېږي. که داسې ونه کړو مريضه مو مري.

ـ مړه دې سي د ښځو نو څه کمی ده. بله به ورته وغواړم.

په دې وخت کې عبدالهادی هم راورسېد، د ناروغې ورور. ښه دنګ، ښکلی، ښايستوکی ځوان و. سپين مخ، نرۍ ږيره، نري برېتونه، په رنجو تورې سترګې. د سپين پاچ لنګوټې ورسره ډېر خوند کاوه. کلاشينکوف يې پر اوږه و. د مرميو څو ججوري يې په پرتله کې پراته وو. هغه له نورو طالبانو سره د کجکي په کمربند کې پروت و. اوس هم له خط نه راغلی و. له ډاکتر نه يې وپوښتل: خور مې څنګه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ وضع يې ډېره خرابه ده. همدا اوس مې حاجي ملا ته همـدا خبره کوله چې بايد يــو يا دوه کسـان خامخـا خپلـه ويـــنه ورتـه ورکي خو حاجي ملا درګرده لګيا دی چې زه خو وينـه نـه ورکـوم. ځه ښه شو چې ته راغلې.

ـ نو زه به څه وکم؟

ـ وينه به ورکې. نور نو څه؟

ـ زه؟ نه ډاکتر صايب! هر څومره پيسې چـې لګېـږي، ورکـوم يـې خو وينه نه ورکوم.

ـ دا د پيسو کار نه دی. وينه خو کومه دوا نه ده چې پـه پيسـو يې واخلو.

ـ وينه به د بل چا نه واخلو، پيسې به ورته ورکړو.

ـ په دې کلي کې به څوک پيدا شي چې خپلـه وينـه ورکـړي؟ ستا چې خپله خور ده، په کيسه کې يې نه يې نو بل يې څـه پـروا کوي؟

ـ زه يې نه سم ورکولی.

ـ ولې؟ ګوره خور به دې مړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ مرگ او ژوند د خدای له طرفه وي.

ـ ښېشکه. خو موږ هم باید خپل بنده‌گي کوښښ وکو.

ـ د چا چې وخت پوره وي. زما او ستا په کوښښ هم څه نه کېږي.

ـ ته څه خبر یې چې د دې وخت به پوره وي که نه؟

ـ که وخت یې نه وي پوره، بې له وینو هم ژوندی پاتې کېږي.

ـ ته ولې دومره ډارېږې؟ هلته طالبانو سره خط کې پروت یې. شپه ورځ دربانديې د مرمیو باران وي. که هلته ولګېږې نو پوهېږې چې څومره وینه به درنه لاړه شي؟

ـ هلته مې چې هر څومره وینه وبهېږي، هغونه اجر لري.

ـ نو یو څوک د مرګ نه ژغورل اجر نه لري؟

ـ ما درته وویل چې مرگ او ژوند د خدای په لاس کې دي. زه او ته نه څوک وژلی سو او نه یې بچ کولی سو.

ـ ترجمه دې ویلې ده؟

ـ خود مې ویلې. تا غوندې خو مې د کفر مکتوبونه نه دي ویلي. پوره اوه کاله مې مدرسه کې سبقان ویلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ښه نو د دې ایت ترجمه راتهووایه چې فرمایي:

و من احیاها فکانما احیا الناس جمیعا

ـمعنا يې دا ده: او چا چې ژوندی کړ یو نفس، لکه ژوندی کړی يې چې ټول عالم وي.

ـ ښه نو دا کار اجر لري، که نه؟

ـ ته دې خپله ډاکتري کوه. ستا سر په دې خبرو نه خلاصیږي. دغه ایت په قران کې فقط یو ځل راغلی خو د جهاد په باب تر سلو زیات ایتونه سته.

ډاکتر غوښتل چې ځواب يې ورکړي چې د حاجي ملا مور ناري کړې: هله ژر کوئ. دلته راسئ.

درې واړه په منډه کوټې ننوتل. د ناروغې سا ختلې وه. سیروم يې بند شوی و.

ډاکتر په بېړه د هغې پر سینه خپل ستاتسکوپ وگرځاوه بیا يې د دواړو لاسونو ورغوي د هغې پر سینې سر په سر کېښودل او په زوره يې کښته خوا ته زور وکړ. دا کار يې شپږ واري تکرار کړ. بیا يې د هغې سر شا ته قاط کړ يوه سپینه ټوټه يې پر خولې ورکېښوه. په یوه لاس يې پوزه وربنده کړه. خپله خوله يې پر ټوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټينګه ولګوله او خپله سا يې د هغې خولې ته ورپو کړه. دا کار يې د سترګو په رپ کې وکړ. بيا يې شپږ وارې پر سينې زورونه وروکړل او بيا يې خولې ته سا ورپو کړه.

پوره لس دقيقې همداسې لګيا و. خو آخر يې په نهيلۍ خپل کار بند کړ. له سر او مخ يې خولې بهېدلې. معلومېده چې ډېر ستړی شوی و. په سترګو کې يې وير ښکارېده.

حاجي ملا ته يې وويل: خبره خلاصه ده.

څو شېبې ټولو لکه يخ چې وهلي وي. په خپلو ځايونو ولاړ وو. د هر يوه په ذهن کې ځينې خبرې وې. ډاکتر خواشينی و. د حاجي ملا او عبدالهادي بېرحمۍ ته فکر وړی و. ځان يې هم ګرم باله چې څنګه يې هغوې ته قناعت نشو ورکولی. ولې دا ښځه مړه شوه؟ په لړو وينو يې ژغورل اسان وو. ځان سره يې ويل کاشکې د طب پر ځای مې د منطق کتابونه لوستي وای. زما منطق څومره کمزوری دی. د ملايانو منطق بيا څومره قوي دی. ځوانان د دوې په وينا له خپلو سرونو او خپلو وينو تېرېږي خو زه چې غواړم د چا ژوند وژغورم، زما په وينا څوک يو څاڅکی وينه هم نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجي ملا هم خپه و. چورت يې واهه چې تېر کال د ترياکو خوند نه و. ده ته په زکات کې ايله دوه منه ترياک رسېدلي وو. سږ هم ترياکو مرض کړی نو د بل واده پيسې به له کومه کړي.

د عبدالهادي چورت دومره خراب نه و. د هغه په خيال کې د جنت باغونه شنه کېدل. حورې، غلمان، د مېوو باغونه، د شېدو رودونه، د شرابو حوضونه. هغه سبا ښار ته تله واسکټ يې همدا اوس اغوستی و. سبا د باغ پل سره د ملي اردو کاروان تېرېده او ده وربانديې ځانمرگی بريد کاوه.

کابل _ ده افغانان. آريا کلينيک

۱۷ - ۰۳ - ۱۳۸٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تــمدن (ت. م. د. ن)**

نور احمد غرغښت د ښونځي په اداره کې ناست و. مخې ته یې د مېز پر سر شل ـ پنځه ویشت ورقې پرتې وې. دا د زده کوونکو د کورنۍ دندې کاغذونه وو چې ده د کتلو لپاره راوړې وې. مخکې تر هغې چې ړومبۍ پاڼه وګوري. ډېر خوشحال و. د دې پاڼو د کتلو لپاره یو ډول تلوسې او هیجان اخیستی و. لاسونه یې رېږدېدل. زړه یې درزېده. په لړزاندو لاسونو یې د خپلې کورتۍ له جېب نه د عینکو ډبلی راویست. خلاص یې کړ او ذره بینې عینکې یې په سترګو کېښودې.

په تېرو څلوېښتو کلونو کې چې دی ښوونکی و. ډېر ځلې په هم داسې حال لیدل شوی و. استاد غرغښت د کلماتو د تجزیې او په تورو وېشلو او د هر توري لپاره د مانا را ایستلو ته ډېره لېوالتیا درلوده. مثلاً د انګرېزي ټیچر کلمه یې داسې په تورو وېشله:

Teacher

T = talent

E = educated

(c) ketabton.com: The Digital Library

A = able

C = careful

H = honest

E = expert

R = responsible

همدارنگه د پښتون کلمې ته یې دغه مانا جوړه کړې وه:

پ = پـتمن؛ ښ = ښـاغلی؛ ت = توریـالی؛ و = وفـادار؛ ن = ننګیالی

ده په هـمدې توګه ډېـرو کلمـاتو لپاره په زړه پورې مـاناوې جـوړې کـړې وې او دا ځـل یې خپلـو شاګـردانـو ته دنده سپارلې وه چـې د «تـمدن» کلمه تجـزیه او د هـر تـوري لپاره یې یوه مناسـبه مـانا پیدا او په کاغذ کې یې ولیکي. د تمدن کلمه د اسـتاد لپـاره ډېـر اهمیت درلود. هغه له تمدن سره ډېـره مینه درلوده او هر وخت به یې د خپل هیواد د لـرغوني تـمدن په بـاره کـې خبـرې کولــې. خـپلــو شاګردانو ته یې هم یوازیــنی نصیحت دا و چـې د خپلـو پلرونو په شان دې زیار وباسي تر څو د خپل هیواد له لاسـه تللـي ویاړونه بېرته ژوندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد ړومبۍ ورقـه راواخيسـته. پـه حيرانتيـا سره يـې وکتـل چـې شاګرد يې د تمدن کلمه داسې په تورو وېشلې وه:

ت = توپک م = مرمۍ د = دښمن ن = نسکور

په پای کې يې ليکلي و: يانې د توپک مرمۍ دښمن نسکوروي.

دويمه ورقه يې راواخيسته. په کې داسې ليکل شوي وو:

ت = توپ م = مرمۍ د = ديوال ن = نړول

يانې د توپ مرمۍ ديوالونه نړوي.

دريم زده کوونکي بيا داسې ليکلي وو:

ت = تانک م = ماين د = درب ن = نسکور

يانې: تانک پر ماين وختوت. درب يې وکړ او نسکور شو.

يوه بـل زده کـوونکي چـې پـلار يـې پخـوا مجاهـد و. دغـه کرښـې کښلې وې:

ت = تَیَاره [د طياره نا سمه املا]

م = مجاهد

د = دافع هوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ن = نسکور

یانې: تیاره =طیاره  مجاهدینو د دافع هوا په ډزو نسکوره کړه.

د هرې ورقې په کتلو د استاد پر تندي یوه بله گونځه هم زیاتېدله. د خوشالۍ احساس یې په نهیلۍ بدل شوی و. اوس یې هم زړه په تېزۍ درزېده خو نه د تلوسې او هیجان له امله بلکې د هغه درد له  امله چې د خپل زړه په تل کې احساساوه. د وخت په تېرېدو نه پوهېده. د نورو استادانو خبرې چې په اداره کې ناست وو. د ده تر غوږونو نه رسېدلې. د چاپېریال سره یې اړیکه شلېدلې وه. په ځان کې ډوب و او د ځانه سره کرار کرار د شونډو لاندې بونگېده. له ډېرې چوپتیا نه وروسته یې په لوړ اواز په داسې یوه لهجه چې گوندي سرمعلم به هم په موضوع خبر وي وویل. سرمعلم صایب! دا شاگردان هم ولله که گرم وي. دوی هغه وختونه نه دي لیدلي چې پلرونو به یې د بودا  مجسمې جوړولې. دوی یوازې دغه وخت په یاد لري چې بودا په کې ړنگه شوه.

۰۹،۲۵، ۱۳۸۵

هلمند  کجکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خندا

نن د هغـو دریـو تنـو د وژلـو وار و. هغـوی مـو پـه دلارام کـې نیــولي وو. ســړک یــې جــوړاوه. درې واړه افغانـــان وو. خـــو لـــه هندوستانیانو سره یې کار کاوه. زموږ مشر ملا هیبت اخنـد وایـي: «څوک چې له کافر سره په دوستۍ کې درې گامه واخلي. د هغـه او د کافر مرگ یو شی دی.»

ملا هیبت اخند هم عجیبه سړی دی. دوه کاله کېږي چې زه یـې انډیوال یم خو تر اوسه مې د هغه خندا نه ده لیدلې. نه خاندي نه له چا سره ټوکې کوي. هغه څه کـوې چــې نـور انـډیوالان هـــم ټوکو ته نه پرېږدي. وایي چـــې دا لهـو و لعب دي او لـــهو و لعـب ناروا دي. په نه خبره سړي ته د ښځې کنځل کوي. ټول انډیوالان ورنه په ډډه گـــرځي. مـوټـروان او وراره یـې تل ورسـره یو ځای وي خو هغوی هم لکه موږ غوندې ترې ډارېږي.کله چې هیبـت اخنـد په چا قار شي. همدغو دوو کسانو ته امـر کوي چـې پښې یې پـه لنگوټې وتړي بیا د لنگوټې یو سر موټروان او بل سر یې خپل وراره ته ورکـوي چـــې پښــې یـــې پورتـه ونیســـــي. پخپلـه لښـتې را اخلي او تر هغو پورې یې وهـي چـې یـا خـو بیخـي لـه اخ و ټوخـه ولوېږي او یا هـم ســـړی بـــې سـده شـــي. مـا هـــم دوه ځلـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې وهل خوړلي دي. يو ځل لمانځه ته لـــړ ناوخته شـوی وم. بل ځل يــې راته امـر کـــړی و چــې يو ســړی پر مخ په لغتـو ووهم. ما ويلي وو چې ملا صايب دا خو ګناه ده. بس همـدا خـبره نه وه بلا وه. داسې يې ووهلم چې دوه ورځې مې پښه پر ځمکه نه شوه اېښودلی.

څېره يې خدايي هيبت لري. يوه سترګه يې ړنده ده. وايي چــې پر کوم مين ختلـی و. يوه پښــه يــې لــه زنګانه نه غوڅـه ده. د کـيڼ لاس دوې ګوتې يې نشته. د بم وړو وړو پارچو يې له مخ نه غلبېـل جوړ کړی. پر پـزې يـې د کالدانـــې يـو غـټ تـپ پـاتې دی. هـــم کوسه دی هم نيم شونډی. برېتونه يـــې ډېـــر نـري دي. غاښـونه يې غټ غټ او کاږه واږه دي. د تندي ګونځــې خو يــې سر و کـال نه ورکېږي. چــې ويده هم وي سـړی تـرې ډارېـږي. پـه ونـه ډېـــر ټيټ دی خو غـږ يې ډېر دی. اورېدلي مې دي چــې په درې کلنی کــې يتيم شوی و. مور يــې بيا خپل لېـوره تـه ناسـته وه. لېـور يـې چرسي و. هيبت به يې هره ورځ واهه. هماغه و چې هيبت له کوره وتښتېد او د بل کلي په دايره کې يې واړول.

د دايرې انډيوالان يې وايي چې هيبت له ځيرې سره نه و جوړ. هر وخت به يې ځان ترې نه ايست خو کله به چې مجبور شو نـو هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې ځيرې راټولولې او هم به يې د شونډو لاندې خلکو ته کنځل کول. اوس هم همدغه خوی لري. نور کنځل يې خير خو د ښځې کنځل چې چا ته کوي. ما ته ډېره غوسه راځي خو له ډاره څه ويلی نه شم.

دا دی راغی. ټولو ته يې په ځير وکتل. بيا يې وويل: لاليه! ورشه هغه سرکوزان راوله.

بنديان يې راوستل. لاسونه يې لنګوټو باندې تر شا تړلي وو. د درې واړو رنګ تښتېدلی و. هيببت خان خو ان پرون د هغو پر مريو چاړه ايښې وه او ورته يې ويلي وو چې سبا به مو مردار کړم. خوارکيان لکه پاڼې رېږدېدل. لکه مال چې قرباني ته يې بيايي. ځانونه يې شاته شاته کول خو زمونږ دوو تنو انډيوالانو بېرته له شا پورې وهل. د ملا هيبت مخې ته يې په ګونډو کړل.

هيبت اخند موټروان باندې غږ کړ: هلکه زما چاړه راواخله.

بنديانو چې د چاړې نوم واورېدل. درې واړو په ژړا شول. ناري سورې يې کولې:

_ ملا صايب! د خدای لپاره رحم وکړه.

_ خدای ته وګوره ملا صايب! کوچنيان لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ملا صایب مره نه کش. نوکریته مېکـنم. بـه لیـاز (لحـاظ) خدا!

خو هیبت اخند لکه چې کوڼ وي. د هغو پر خـبرو یـې بیخـي سر ونه گرځاوه. له موټـروان څخه یـې چـاړه واخیسـته. د اول نــفر پـر مرۍ یې کېښوده. هغـه بیـا پـه زاریـو وژړل. پـه ژړه غـوني غـږ یـې وویل: ملا صایب! خدای ته وگوره. زه خو مسلمان یم. خون به مې تر غاړې دې شي. خدای...

نور څه ویلو ته یې پرېنښود. چاړه یې پر مرۍ ور تېره کړه. غاړه یې تر نیمایـي ورغوڅـه کـړه. هغـه شـټنکې وهلـې. لاس او پښـې یـې غورځولې. د ورمېږه له دوو رگونو څخـه یـې وینـې دارې وهلـې. زه ډېر ډارېدلی وم. ما تر اوسه د انسان څنکدن نه و لیدلی. وژل خو یې څه کوې. زړه مې درزېده. سر راباندې دروند شـو. لاسـونه مـې رېږدېدل.

هیبت اخند بیا د هغه پر مرۍ چاړه تېـره کـړه. دا ځـل یـې سر لـه ستې نه بیخي جلا کړ. د پرې شوي سر له ویښتانو نه یـې ونیـول. خپلو سترگو ته یې پورته کـړ او کـټ کـټ پـه خنـدا شـو. ډېـر یـې وخندل. دا اول ځل و چې د هغـه خنـدا مـې لیدلـه. سـترگې یـې سرې وې. سرې ترېنه وېرېده. ټولو ته یـې پـه ځـیر وکتـل گونـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ حال يې زموږ په ښېرو کې ليده. په سترګو کـې يـې د ارامـۍ نښې وې. لکه چې مار چـيچلي تـه دې ترياک ورکـړي وي او درد يې کرار شوی وي. همداسې هوسا شوی و.

د دويم بندي پـر غـاړه يــې چـاړه کېښـوده. سر راباندې وځرخېد. سترګو باندې مې توره تياره راغله. زه په نورو باندې پوه نشوم.کلـه چې مې بيا سترګې وغړولې. انډيوالان را نه چاپېر وو. يوه انـډيوال راباندې غږ کړ: مامد نسيمه ! پورته شـه چـې دوه لمونځونـه درنـه قضا شول.

کابل

۱۷-۲-۱۳۸٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پیر لېونتون

څو اونۍ کېدې چې د کریم خوی بدل شوی و. ډېر وخت به ځان ته یوازې کېناسته. زموږ سره یې ګپ شپ او ټوکې ټکالې کمې شوې وې. د درسو په کیسه کې هم چندانې نه و. هغو ساعتونو ته چې استادانو یې د درس پوښتنې کولې. نه راتله. انګلیسي کورس یې هم پرېښی و. ما څو ځلي ورته ویلي و چې وه ملګریه که مریض یې چې ډاکتر ته دې بوځم. خو هغه به هر ځل ویل چې نه زه بیخي روغ رمټ یم. یوه ورځ چې زه او کریم د لیلیې په کوټه کې یوازې وو. راټینګ مې کړ چې هرو مرو به حال وایې. څه درباندې شوي دي؟

هغه وویل: هېڅ راباندې نه دي شوي.

– نو ولې داسې یو رقم خپه غوندې یې؟

– نه یم. وللّه که خپه یم.

– پخوا خو داسې نه وې. که کومه ستونزه لرې راته ووایه زه به درسره مرسته وکړم.

– نه بابا ته ولې دومره شله یې. درته ومې ویل چې هېڅ خبره نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ گوره له ما نه يې مه پټوه. ريښتيا، مين شوى خو به نه يې؟

ـ نه مې پرېږدې نو. مجبور يم چې درته ووايم. گوره ما د پير لاس نيولى. آغا جان نوميږي. ډېر لوى ولي دى.

ـ دا خو ډېره ښه خبره ده خو بيا نو ولې خپه يې. ولې درس نه وايې. له مور سره ولې خبرې اترې نه کوې؟

ـ ما ته مې هره جمعه کې پير صايب وظيفه راکوي. تر بلې جمعې زه هماغه وظيفه کومه. چې وظيفه کوم بيا نور هېڅ شى خوند نه راکوي.

ـ گوره کريم جانه! هر شى يو حد لري. وظيفه خپل ځاى لري، درس خپل ځاى. په هېڅ شي کې افراط ښه نه دى.

ـ ما ته مي پير صايب ويلي چې وظيفه دې سمه کوه. نورو شيانو پسې مه گرځه. خداى قادر مطلق دى هر څه به درته سم کړي. زه د درسونو هېڅ انديښنه نه لرم بيا به په امتحان کې وگورې چې څوک ډېرې نمرې وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ورته تر ماښامه لګیا وم خو هغه له خپل خره نه کښته کېده. لـه هغې ورځې وروسته به یې کله کله د پوهنتون باغچې تــه بـوتلــم او راســره به یې د زړه خـوالـه وکــړه. پــوهـېده چې بل څوک یــې خبرو ته غوږ نه نیسي. په ټولو انډیوالانو کې یې یـوازې لـه مـا سره ډېره لګېده. هغه هم په دې خاطر چې خبرې یې واورم. که مـا بـه کوم نصیحت ورته وکړ نو خوا به یې بده شوه. هغه تل را ته د خپل پیر صفتونه کول. نوې نوې خبرې یې زده کړې وې: «فنا فی الله»، «وصلت»، «هاتف»، «غـوث»، «قطـب زمـان» او ډېـرې نـورې خـبرې چې زه یې پر ماناوو چندان نه پوهېدم. هره اونۍ به یې د آغا جان د کراماتو یوه نوې کیسه کوله.

یوه جمعه یې راته وویل چې راځه نن ته هـم راسره لاړ شـه. د پـیر صایب په حضور به دې مشرف کړم. ما هم همدا غوښت چې کومه ورځ دغه پیر وګورم چې څه رنګ سړی دی.

ورسره لاړم. د قلعه مسلم تنګـو کوڅـو کـې څـو وارې ښــي او چـپ لاس ته وګرځېدو تر څـو د آغـا جـان لنګـر تـه ورسـېدو. د سرای د دروازې دواړو خـواو تـه شـپږ شـپږ کسـان لاس پـر سـینه ولاړ وو او راتلونکو کسانو ته به یې «مرحبا! مرحبا! جزاک الله!» ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم مخکې زه ورپسې انګړ ته ننوتو. ډېره لويه حويلي وه په منځ کې يې د وزير اکبر خان مېنې د کورونو په شان يوه لوکسه دوه پوړېزه ودانۍ وه. د اول چت دالان په بوټونو ډک و. د يوې لويې کوټې مخې ته مو بوټونه وايستل. د کوټې ور بېرته و خو د جاليو پرده يې ځوړنده وه.

کريم پرده لېرې کړه او ورننوت. ورپسې زه هم ننوتم. د کوټې بر سر کې درې دانې کوربچې سر پر سر پرتې وې او د تخت غونډې ځای يې جوړ کړی و. پر دې تخت باندې يو زېرور ناست و. ږيره يې ډېره اوږده او پاکه وه. مخ يې تک سپين ځلېده. داسې ښکارېده چې په ژوند کې به يې د لمر مخ نه وي ليدلی. برېتونو يې دواړه شونډې پټې کړې وې، خوله يې نه ښکارېدله. څنې يې نږدې تر څنګلو پورې رسېدلې وې. پر تندي يې يوه نرۍ زرغون رنګه ريتاړه تړلې وه. پر غاړه يې ډېرې اوږدې تسبيح چې سرې، شنې، ژېړې، سپينې او زرغونې دانې يې لرلې، پرتې وې. اوږده شنه چپنه يې اغوستې وه. پايڅې يې بډ وهلې وې. يو بالښت يې شا ته او دوه ګردي بالښتونه يې دواړو څنګو ته پراته وو.

د کوټې دواړو اوږدو دېوالونو ته ډېرو زېرورو او څېېورو ډډې لګولې وې. په يوه کنج کې لس دولس کسان د دايرې په شکل سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناست وو او په لوړو اوازونو يې «هل، هو، هل، هو» ويل او لکـه فـنر غوندې له ملا نه ټيټېدل او هسکېدل.

همدا چې کوټې ته ننوتو، کريم خپل پير خـوا تـه پـه خـاپوړو روان شو. کوټه څه کم شل گزه اوږده وه او کريم دا ټول واټن هماغســې په خاپوړو وواهه. پير ته چې ورسېد، لکه سپي چې د خپل څښتن په پښو پورې ځان سـولوي، د پـير پـه پښـو يـې خپـل مـخ او پـوزه وموښل.

د پير په څېره کې يو ډول تکبر ښکارېده. سترگې يې پټې نيـولې وې. په گوتو يې د تسبو دانې اړولې. ښه ډېـره شـېبه وروسـته يـې سترگې پرانيستلې. د کريم پر سر يې لاس تېر کـړ. «جـزاک اللـه» يې وويل بيا يې د پخوانيو اروپـايي بـډايو ښـځو پـه دود ښـې لاس کريم خوا ته ونيو. کريم د هغه لاس په شونډو او سترگو ښکل کړ او بېرته هماغسې په خاپوړو شا ته روان شو. بې له دې چې مخ يـې له پير څخه واوړي، د کوټې پای سر ته راغی او غـلی پـه يـوه کـنج کې کېناست.

د پير چې ما ته پام شو په ډېر اواز يې رابانـدې غـږ وکـړ: «مرحبـا! مرحبا! راځه د خدای دوسته راځه»

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په عادي تگ رهي شوم.

ټول ناست کسان سره وبونګېدل:

_ دا بې ادب څوک دی؟

_ ځمکې ته ولويږه کم بخته!

_ توبه، توبه!

_ استغفرالله! توبه!

_ يا پيره رحم وکړه!

_ يا پيره کرم!

_ يا پيره ورحمېږه چې دا کوټه پر موږ ونه نړېږي!

ما غوږونه کانه واچول او همداسې نېغ پير خوا ته ورغلم. پير خپل لاس را اوږد کړ چې مچ يې کړم. خو ما په يوه لاس ورته لاس ورکړ. د پير شنې اوبلنې سترګې زما په سترګو ښخې شوې. را تـه ويــې موسل او ويې ويل: پروا نه لري ته نن زما خاص مېلمه يــې. راشـه! دلته څنګ ته مې کېنه.

د مريدانو شور پورته شو: سبحان الله! سبحان الله! يا پيره صـدقه دې شم. يا پيره ډېر مهربان يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د سترګو لاندې هم پیر او هم مریدان یې څارل. پیر یـوه څنډېـور ته په سترګو کې اشاره وکړه. هغه راپاڅېد او په څرخېدو او تاوېـدو شو. په لوړ غږ یې شروع کړ: «هل هو. یا پیره یا پیره. هل هو هل»

نورو مریدانو د هغه خبرې ورغبرګولې داسې شور جوړ و لکه د اول صنف شاګردان چې په ښوونکي پسې الفبې تکراروي. سـړی پـوره لس دقیقې تاوېده. اخر کې زما مخـې تـه کېناسـت. سـترګې یـې تکې سرې وې او شا و خوا یې توره کړۍ راتـاوه وه. پـه خولـو لونـد خیشت و. ګرېوان یې تر نامه خلاص و. د نورو په شان یې په غـاړه اوږدې تسـبیح کـوړۍ وې. لمـن یـې د کبابیـانو پـه څېـر سـوری سوری وه. د خولې نه یې د چرسو او سګرټو بوی راتلـه. څنډېـور پـه زوره چیغه وکړه: یا پیره! دغه سړي ستا بې احترامي کړې ده.

پیر وویل: پروا نه لـري. نـن یـې اولـه ورځ ده. بیـا بـه داسـې ګستاخي نه کوي.

ـ یا پیره! که زه ورته څه ونه وایم، خدای به رانه خپه شي. یا پیره! ته د خدای محبوب یې. ستا د ازار زور نـه لـرم. پرېـږده چـې دي بې ادب ته سزا ورکړم.

ـ مرحبا! بس دی. ما بخښلی دی. زما پر مېلمه کار مه لره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنېور د پیر پښو ته ولوېد او په ژړا یې وویل: یا پیره صدقه دې شم. ته څومره مهربان یې.

زه پوهېدم چې دا هر څه د نورو مریدانو د ډارولو له پاره کیږي او پیر غواړي چې خپلو مریدانو ته خپل زور وښیي.

غرمه شوه. ګډوه او چیلمچي راورسېدل. د پیر لاسونو ته یې اوبه واچول. بیا یې د چیلمچي اوبه په یوه سطل کې چې تر نیمایي له اوبو ډک و، توې کړې. مریدانو پر سطل برید جوړ کړ. له هرې خوا نارې پورته کېدې «ما ته یې راکړه.»، «یو غوړپ دې خوا ته را تېر کړه.»، «باداره! چې زه دې هېر نه شم.»

هر چا ته به چې په ګیلاس کې یو غوړپ اوبه ورسېدې، نو مخ قبلې ته به ودرېد او د بسم الله پر ویلو به یې خولې ته پورته کړ.

ډوډۍ مو وخوړه. پر دسترخان باندې د هر څه پرېماني وه. سېله وریجې، درې رقمه غوښې او څو رنګه میوې. دسترخان چې ټول شو، ساعت ته مې وکتل. پوره یوه بجه وه. پیر ته مې وویل: آغا صایب! د جمعې ورځ ده. د لمانځه وخت دی. که دې خوښه وي چې جومات خوا ته ورشو.                                    پیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل: لمانځه ته؟ آغا باداره ته دا خوارکی پوه کړه. لکه چې موږ يې نه يو پېژندلي.

آغا بادار چې زما په انـد د آغـا جـان ورور او معـاون بـه و، وويـل: د خدای دوسته! لمونځ خو پر عـامو خلکـو بانـدې فــرض دی. دا د خــواصو دېــره ده. مـوږ شــپه او ورځ لــه خــدای ســره يـو. زمـوږ سترګې، لاسـونه، پښې، زړه او ټـول اندامونه د خـدای ذکـر کـوي. پير صايب خو په خلوت کې ورسره مستقيماً خبرې کوي. موږ اهل الله يو لمانځه ته ضرورت نه لرو.

ما د لمانځه لپاره رخصت واخيست او ووتم. له هغې ورځې وروسته کريم له ما نه هم ګوښه ګرځېـده. څـو وارې مـې هڅـه وکـړه چـې ورسره خبرې وکړم خو ګټه يې ونکړه. هغه ورځ تر بلـې لا پـه خپـل ځان کې ډوبېده. سترګې به يې مدام سرې وې. د سمستر د پـای ازمويني پيل شوې. کريم د دوو دريو مضمونونو امتحـان ورکـړ خـو بيا ورک شو. نه ليليې ته راتله او نه پوهنتون ته.

نن مې پس له دوو کلونو هغـه وليـد. اول سر کـې مـې بيخـي ونـه پېژاند خو چې ښه ورته ځير شوم، پوه شـوم چـې کـريم دی. د سر نه تر پښو پورې په خيرو کې ډوب و. ويښتان يـې جاغـه او بـبر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرېوان يې شلېدلی او لمن يې سوری سوری وه. د لستوڼو تڼۍ يې شکېدلې وې. سترګو يې چوخڼې نیولې وې. ږیره او برېتونه يې ببر او خېرن وو. د خولې له کونجه يې ناړې بهېدلې. يوه پايڅه يې کښته بله پورته وه. سترګې يې مخامخ کوم شي ته ځير وې. ما فکر وکړ چې ما ته به ګوري خو له څنګه مې تېر شو او سترګې يې هماغسې يوې نقطې ته نیولې وې. ما وربانديې غږ وکړ خو لکه چې اورېدلي يې نه وي، رانه تېر شو. له هغې خوا دوه کسان راروان وو. يوه يې بل ته وويل: دا دېرشم کس دی چې د آغا جان په لنګر کې ليونی شوی. کابل

۱۳۸۶ - ۰۴ - ۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د فراغت جشن**

اجمل ته په ټول ژوند کې دا ډېره مهمه ورځ وه. هغه ورځ چې د لسو کالو را په دېخوا ورته په تمه و. مګر په څېره کې یې د خوښۍ څرک نه لګېده. هغه د لوړو زده کړو وزارت خوا ته روان و تر څو خپل ډیپلوم واخلي. چورت یې واهه.

څه ښه وختونه وو. لس کاله مخکې په همدغو ورځو یانې د حوت د میاشتې په اخرو ورځو کې د کانکور پایلې اعلان شوې وې. یوه ملګري پر اجمل باندې زېری کړی و چې «اجمله! مبارک دې شه! طب ته کامیاب شوی یې.»

هغه پر ځان باور درلود او پوهېده چې ملګری یې ریښتیا وایي خو بیا یې هم تلوسه لرله چې خپله نتیجه پخپلو سترګو وګوري. وروسته له هغه یې چې خپله نمره لیدلې وه، په ډېرې خوشحالۍ سره خپل کور خوا ته روان شوی و. کله چې کور ته رسیدلی و، لیدلي یې وو چې مور، پلار، خویندې او وروڼه یې ټول ګلان په لاس د هغه راتلو ته منتظر دي. هماغه ملګري چې په ده باندې یې زېری کړی و، کور ته یې هم خبر ورکړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت به د پوهنتون د فارغـانو  د فراغـت ورځ پـه ډېـرو ډبـډبو لمانځل کېدله. لوکس موټـرونه به يې گل پـوش کـول. پـه لوکسـو هوټلونو کې به يې محفلونه جوړول. د فارغانو په غاړو کې به گلان اچـول کېدل. دوی بـه لوکسـې دريـشۍ اغوسـتې وې او گلپـوش موټرونو به يې د پوهنتـون پـر سـړکونو گرځيـدل. د دې حالـت پـه ليدو به د اجمل په زړه کې گرځېدل چې کاشکې هغـه هـم خپـل فراغت په همداسې شان ولمانځي. خـو اوس هغـه وختونـه نـه وو. اوس هـر څـه بـدل شـوي وو. هېچـا حـق نـه درلـود چـې دريشي- واغوندي. د محفلونو جوړول خو لويه گناه وه. علم، پوهه، زده کړه، دې هر څه خپل ارزښت له لاسه ورکړی و. د تنـظيمي جگــړو پـر مهال د کابل پوهنتون پوره درې کاله بند و. اجمـل تـه د طـب اوه کلنـــــه دوره لســـــو کالـــــو تـــــه اوږده شـــــوې وه. اجمل خيال پلو واهه چې خپل فراغت لمانځي. په لوکس گلپوش شوي بنز موټر کې سپور دی. د سړک دواړو غاړو ته ولاړ کسان پر موټر باندې گلان شيندي.

هـغه هـمداسې په چورت کې روان و  چې د يوه موټـر بـريک ځان تـه متوجـه کـړ. د غـړ لـوري تـه يـې وکتـل کـه گـوري چـې د امـر بالمعروف ډاټسن موټر دی. د موټر له باډۍ څخه دوه تنه طالبـان

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سترګې يې د ناوې په شان تورې وې او پـر سرونـو يـې د پـاج سپينې لنګوټې وې، ورټوپ کړل. د هغو څخه يو تن چې کيبل يې په لاس کې و، د اجمل په وهـلو شـروع وکـړ. پنځه - شپږ واره يـې د اجمل پر اوږو داسې سخت سـخت وارونـه وکـړل چـې تـا ويـل د پلار قاتل يې دی.

اجمل چـې اوږې يـې بـد سـوی کـاوه، پـه وارخطـايی وويـل: مـلا صايب! څه مې کړي دي چې داسې مې وهې؟

طالب چې غاښونه يې له ډېره قهره سره جنګېـدل، ورتـه وويـل: د کاپر زويه! ته لا خبرې هم کوې! ته څنګه سر تور سر ګرځې؟

اجمل وارخطا شو. خپل سر ته يې لاس يووړ او ايله اوس يې په ياد شو چې له کوره د راوتلو پر وخت يې خولۍ هېره کړې ده.

دواړه طالبان بيا هـم د هـغه په وهـلو لګيا شول او تر هــغې پـورې يې وواهه چې دواړه ښه ستړي شـول. وروسته يې دهغه لاسونه تـر شا وتړل او د موټر باډۍ ته يې واچاوه. د موټر په سيټ کې ناسـت طالب چې نورو ورته حـاجی مـلا صـايب ويـل، مـوټروان تـه وويـل: هلکه! سلماني دوکان ته ورسه چې د دې خنزير سر بـه پـه سـنت برابر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر حرکت وکړ او څو شیبې وروسته سلماني دوکان سره ودرېد. امر بالمعروف والا اجمل لاس نیولی دوکان ته بوت او ویې ویل: استاذه! د نورو کارونه پرېږده. اول د دغه دوس سر وخریه چې موږ تلوار لروا.

سلمان د «شه صایب» په ویلو د اجمل سر پاک ور وخرییل. کله چې د سلمان کار خلاص شو، طالب اجمل ته مخ ور واړاوه او ویې ویل: د استاذ پیسې ورکړه.

اجمل چې له شرمه یې خپل سر کښته اچولی و، وویل: پیسې راسره نشته.

امربالمعروف والا د هغه له لاسه ساعت خلاص کړ او د سلماني پر مېز یې کېښود. بیا یې سلمان ته وویل: استاذه! دغه سات درسره وساته. چې هر وخت یې پیسې درته راوړې بیرته یې ورکړه.

د سلمان زړه و سو. ساعت یې د اجمل جیب ته واچاوه او ویې ویل: صایب! پروا نه لري. زه اجوره نه غوالم.

طالب اجمل لاس نیولی موټر خوا ته بوت او له حاجي ملا څخه یې وپوښتل: حاجي ملا صایب! اوس ورسره څه وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشر ملا ورغبرگه کړه: تـه ودرېـږه. زه یـو څـو پوښـتنې وکـړم چـې مسلمان دی که کاپر.

د اجمل رنگ تښتېدلــی و. زړه یــې ټکـان کـاوه. ټـول بـدن یــې رېـږدېدل او د درد له لاسه سم نشو درېـدلی. حاجی ملا وپوښتل: لوی الحمد دې زده دی؟

اجمل پوهېده چې طالبان «دعای قنوت» ته لوی الحمـد وایـي نـو په ویلو یې پیل وکړ: اللهمه انا نستعینک و نستغفرک ...

حاجی ملا بیا وویل: د جنازې لمونځ ووایه.

اجمل د جنازې لمونځ هم ووایه. حاجی ملا نورو طالبانو ته وکتـل او په ملنډو یې وویل: دا کاپر خـو لکـه چـې اوس مسـلمان شـوی دی.

اجمل وویل: زه همداسې مسلمان پیدا شوی یم.

حاجی ملا چې خپلو انډیوالانو ته یې سترگه وهله، وویـل: اوس به دې مالوم کړم چې ریښتیا مسلمان یې که نه. ښـه نـو تـه را تـه چوبي سنتونه ووایه؟

اجمل په وارخطایۍ سره حیران حیران وکتل. پـه لړزانـده غـږ یـې وپوښتل: چوبي سنت څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجی ملا تندی تریو کړ او ویـې ویـل: ومـو لیـدل چـې دا خنزیـر کاپر و؟ هله موټر ته یې واچوئ. په جیل کې به یې مسلمان کړو.

موټر د امر بالمعروف زندان خوا ته روان شو.

کجکی

۱۱،۱۱،۱۳۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درېمخې

عظیم مې پخوا هم دوه ځلې لیدلی و. هغه پولیس منصبدار و خو ما اول ځل د «شب شعر» په یوه محفل کې ولید. دا د دولس کاله مخکې خبره ده. مشاعرې ته په پولیسي دریشۍ کې راغلی و. پر اوږو یې تورنې رتبه او پر سینه یې درې مډالونه ځړېدل. زما څنګ ته ناستو کسانو خپلو منځو کې سره ویل: عظیم باندې خپل یونیفورم ډېر ګران دی. وګورئ چې ان په مشاعرو کې یې هم اغوندي.

یوه بل وویل: وروره! نن سبا خو د همدې رتبو او مډالونو وخت دی او پر هر چا ګران دي.

مشاعره شروع شوه. ویاند په سر کې عظیم ته بلنه ورکړه. هغه خپل شعر ولوست. لهجه یې کابلي فارسي وه. شعر یې ما ته خوند رانکړ. خو یو څو کسانو ورته ډېرې چکچکې وکړې. پخپل شعر کې یې حاکم ګوند ستایلی و. ستاینه څه چې یو ډول چاپلوسي یې ورته کړې وه.

وختونه تېرېدل. د تنظیمي جګړو ډګر تود و. زه په یوه میني بوس موټر کې «ده دانا» خوا ته روان وم. موټر مو د دهمزنګ له څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاري نه تاو شو او ناڅاپه يې بريک ونيو. دوه تنه وسـله وال کسـان موټر ته راوختل. د ټولو سپرليو مخونو ته يې په ځير وکتل او ځينـو ته يې امر وکړ چې له موټره کښته شي. لس دولس کسان يې کوز کړل. زه هم په کې وم. د پخواني شوروي د علم و فرهنگ د خونې ودانۍ ته يې بوتلو.

دا وخت  دغه ودانۍ په کنډواله بدله شوې وه. دېوالونه يې سوري سوري وو. د خښتو او هيندارو ټوټې يې هرې خوا ته پرتې وې. پـه انگړ کې يې يو زنگون وانښه شنه شوي وو. ټـولې کړکـۍ او دروازې يې ماتې وې. يوې لويې کوټې ته يې ننه ايستلو. گورم چې عظـيم د څـو تنـو بـبر سرو وسـله والـو پـه مـنځ کـې ولاړ دی او پـه نـورو ټوپکيانو باندې امرونه کـوي. داسـې ښـکارېده چـې د ډلـې مشرـ دی. کـالي يـې بيخـي بـل ډول وو. يـو اوږد بخمـل کمـيس يـې اغوستی و چې ان تر ښنگرو پورې يې و. د پرتـوگ پـايڅې يـې بـډ وهلـې او پـه پښـو کـې يـې سـيلور بوټونـه وو. پـه غـاړه کـې يـې د تمانچې د مرميو قطار او تر ملا يې پوليسي کمربنـد تـړلی و. ږيـره يې هم پرېښې وه. څو تاره پر زنه او څو څـو تـاره د دواړو څنگـو يـا ټېکونو لاندې. تر پخوا ډېر چاغ شوی و. آن لـه ډېـر چـاغوالي يـې سترگې سمې نه معلومېدې. يو برگ دسـمال يـې پـر سر تـړلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې یې موږ ته پام شو، غاړه یې هسکه کړه. زموږ خوا ته په داسې تکبر روان شو چې ته وا ډیلی یې فتح کړی. موږ یې څنګ په څنګ سره ودرولو. یو قلم یې له جیبه راوایست. اول نفر نه یې وپوښتل: اې چیه؟

هغه خوارکي وویل: کلم استن.

عظیم یو بل ټوپکوال ته چې په ده پسې لکه باډیګارډ غونډې روان و، سترګک وواهه. وسله وال هغه سړی تر لاس ونیو او بلې کوټې ته یې بوت.

عظیم له دویم سړي نه هم هماغه پوښتنه وکړه. هغه یې په ځواب کې وویل: قلم اس.

همداسې یې په ټولو باندې د قلم نوم واخیست او هغه کسان یې چې د قلم پر ځای «کلم» ویلي وو. هلته وساتل. پاتې کسان یې رخصت کړل. ما ټول ژوند په کابل کې تېر کړی نو له دې امتحانه کامیاب راووتم.

نن مې له لسو کالو وروسته بیا هغه ولېد. دا ځل یې توره دریشي او سپین شخ ګرېوانه کمیس اغوستی و. سره نیکټایي یې تړلې وه. ږیره او برېتونه یې پاک خریيلي وو. تورې عینکې یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترگو او یوه شنه دوسیه يې په لاس کـې وه. دا د یونمـا پـه دفـتر کې د دیموکراسۍ په اړه غونډه وه. غونډه شروع شوه. لومړی وینـا وال يې عظیم و. په ایراني لهجه يې خبرې کولې. وینا يـې داسـې پیل شوه:

خانم ها و آغایون!

امروزه عمده ترین چالشی که فرا راه دموکراسي قرار دارد همانا حضور گستردهٔ جنگسالاران در کشور میباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوزخ په انسان کې

روزي او نفقه، ښې کلمې او ښې بهانې. کله کله به عبدالجبار خپل وجدان گرماوه چې ولې داسې کارونه کوي. خو د جبار پلمه همدا وه چې سړی د نفقې لپاره مجبوریږي چې ځینې کارونه وکړي. هغه د استخباراتو په اداره کې مستنطق و. کار یې هم آسان و او هم سخت. چارواکو به جبار ته د هر تورن سره یوه دوسیه هم ورسپارله چې د تورونو یو لیست به په کې و. د هغه دنده دا وه چې ټول یا لږ تر لږه تر نیمایي زیات تورونه په تورنو باندې ومني. په خپل کار کې آزاد و. د هر څه د کولو واک یې درلود. د تورنو وهل، ځورول، بې خوبه کول، د هغو د ویښتانو او ږیرې شکول، برق ته یې ورکول او ...

په لومړیو کې به یې تورن کسان یوازې په سوکونو، څپېړو، او لغتو وهل. له دې کاره یې ډېر خوند اخیسته. د وړوکوالي څخه یې په زړه کې همدا ارمان و چې هر څوک وډبوي. هغه په ماشومتوب کې تر گردو همزولو ډنگر او کمزوری و. هر وخت به یې په جنگ کې وهل خوړل خو اوس نو خدای ورکړی و.

کرار کرار یې د ځورولو نورې لارې هم وکارولې. نور نو یوازې د تورنو په وهلو نه راضي کېده. ځینو تورنو کسانو به هم یوازې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهلو اقرار نه کاوه. یو نیم کسـان خـو بـه د جبـار پـه نریـو بنـځینه لاسونو بیخي نه خوږېدل ځینو به ملنډې هم پرې وهلې.

میاشتې کلونه تېرېدل او جبار د اقرار اخیستلو نـوې وسـیلې او نوې طریقې زده کولې. پر بوتل باندې د تورنو کېنول او د هغـو پـر جنسي آلت د ډېرې ځوړندول تر ټولو موثرې لارې وې.

حکومتونه یو په بل پسې بدلېدل رابدلېـدل خـو جبـار لـه خپلـې دندې نه لرې کېده. هغه به د هر نوي حکومت په راتگ سره پنځه شپږ ورځې وزگار پاته کېده. خو ډېر ژر به د تورنو نوي کاروانونه ور ورسېدل. هغه به په همدې ځو ورځنۍ وزگارتیا کې ډېر نارامـه و. لکه هغه ځوک چې یو ډېر قیمتي شی یې ورک کړی وي، دې خوا ها خوا لالهانده گرځېده. هېڅ شي خوند نه ورکـاوه او هـېڅ ځـای کې یې ارام نه مونده. وروسته بیا جبار د بیکاریو وختونو لپاره هـم یوه چاره وکړه. د کار په موده کې د اقرار اخیسـتنې پـر وخـت یـې ټول غږونه پـه فیتـه کـې ثبتـول. د تورنـو کړیکـې، ژړاوې، چیغـې، فریادونه، زارۍ او د جبـار سـپکې سـپورې او زیـاړې پـه فیتـو کـې خوندي کېدلې. جبار د بېکارۍ په شپو همدغه فیتې په ټېپ کې غږولې او ډېر خوند یې ترې اخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه کاله مخکې یو بل حکومت راغی. جبار یې له دندې وشاړه. هغه څو اونۍ په کابل کې د کار په لټه کې و. خو د خوښې کار ورته پیدا نشو. همدا و چې پېښور ته یې کډه کړه. هلته څو ځایه د منشیتوب کار ورته پیدا شو. جبار په هر ځای کې څو څو ورځې تېرې کړې خو دغو کارونو خوند نه ورکاوه. ډېر وخت یې په خپل کور کې د هماغو فیتو په اورېدلو تېراوه. گوزاره یې په هاغو بېخرتو پیسو کېدله چې د کار په موده کې یې گټلې او د هغه ښځې معصومې په کور کې خوندي کړې وې.

په کور کې یوازې دی او ښځه یې اوسېدل. اولاد یې نه و شوی. یو څه موده چې تېره شوه ډېره عجیبه ستونزه ورته پیدا شوه. په ناحقه یې معصومې باندې شک پیدا شو زړه کې یې گرځېده چې ښځه یې له کوم چا سره لاره لري. دوه درې اونۍ یې د لیرې نه خپل کور وڅاره چې څوک ورته راځي که نه. هېڅ څوک یې هم ونه لید.

پر شیطان یې لعنت وویل. څو ورځې هوسا و. خو بیا ورته بدگوماني پیدا شوه. شک یې وار په وار زیاتېده. کور کې یې وویل چې د کړکیو پردې دې نه لیرې کوي. پر دې یې هم بسنه ونکړه. یوه ورځ یې تور رنگ راوړ او ټولې ښیښې یې تورې کړې. د کړکیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شا ته يې اوسپنيزې پنجرې ولګولې. بلـه ورځ يــې لـه بـازاره پنځـه دانې غټ غـټ قلفونـه راوړل او پـه دروازې يــې ولګـول. ښـځه يــې وپوښتل: دروازې خو دوه قلفونه لرل نو دا نور دې ولې ورولګول؟

ـ هېڅ ته نه پوهېږې. دا پردی وطن دی احتياط ښه شی دی.

جبار به که د دوو دقيقو لپاره هم له کوره ووت نو د دروازې ټول قلفونه به يې بندول او کيلي ګانې يې خپل جيـب تـه اچـولې. لـه کوره يې داسې شی جوړ کړی و چې مرغــۍ هــم نشـوای ورننـوتی خو بيا يې هم شک نه ليرې کېده. کله کله يې پـه کـور کــې ويـل چې زه بازار ته ځم. خو د کور شا و خوا ته يې پيره کوله.

سوکه سوکه خبره نوره هم خرابـه شـوه. هغـه ډېـر ځوريـده. لـه معصومې څخه يې کرکه کوله. ته وا د ننه په بدن کې يې اور بل و او دی يې سوځاوه. يوه ورځ يې په ډېره بېړه د کـور ور خـلاص کـړ. په منډه د خوب کوټې تـه لاړ. د پـردې شـا، د تخـت لانـدې، ټـول ځايونه يې وپلټل. پخلنځي ته لاړ. الماری او روکونـه يــې پـه ځـير وکتل. بيا يې تشناب ته هم سر ښـکاره کـړ. ټـولې کـوټې او دالان يې ښه له نظره تېر کړ. معصومې ورنه پوښتنه وکړه: خيريت خو بـه وي. کوم څه دې ورک کړي دي که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ راته ووایه چېرته دې پټ کړی؟

ـ څه شی؟

ـ پخپله پوهېږې. سړی دې چېرې پټ کړی؟

ـ کوم سړی؟ ماغزه خو به دې نه وي خراب؟

لا یې خبره نه وه خلاصه شوې چې د جبار تر سوکونو او لغتو لاندې شوه. د هغې ورځې نه وروسته به یې هره ورځ همدا حال و.

کله کله به جبار نه سم سړی جوړ شو. له معصومې به یې بخښنه وغوښته، نوې جامې به یې ورته راوړلې. ښه به یې په مینه ورسره چلند وکړ. خو چې څو ورځې به تېرې شوې، بیا به پوښتنې ګروېږنې، وهل او ټکول شروع شول.

کرار کرار د جبار شک او بد ګوماني لا زیاته شوه. نیمه شپه به هم راویښېده. ټولې کوټې به یې وپلټلې. معصومه به یې راویښه کړه او په وهلو وهلو به ترې پوښتنه وکړه چې څوک درسره ویده و؟

څومره چې د جبار شک زیاتېده، هماغومره یې پر معصومې ظلمونه هم ډېرېدل. پر معصومې به یې هم د ځورونې هره طریقه ازمېیله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

نن جبار ښار ته تللی و. څنګه چې راستون شـو د وره ټـول قلفونـه يې خلاص کړل. مخامخ د خوب کوټې تـه لاړ. لېـوني غونـدې يـې دې خوا ها خوا وکتل. تخت يې پورتـه کـړ. بسـترې يـې ورغړولـې. پردې يې وشکولې. پخلنځی، دالان او نورو کوټو کـې يـې هـم هـر څه ګډوډ کړل.

تشناب ته لاړ چت او دېوالونو ته يې وکتل. پر تل يې لاس ورتېر کړ او په داسې غږ چې ته وا له کوم شي څخـه وېرېـدلی وي، پـه زوره يې نارې کړې: معصومې!

معصومې چې زړه يې درزېده او ټول بدن يې رپېـده، پـه وېرېـدلې غږ ځواب ورکړ:

ـ څه دې ويل؟

ـ څوک راغلي وو؟

ـ دروازه خو تا را پسې بنده کړې وه. کله څوک راتلای شو.

ـ څوک راغلي وو. رېښتيا ووايه؟

ـ قسم درته خورم ولله که خو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ نو دا تشناب ولې لوند دی؟

ـ کالي مې مینځلي. نه یې وینې چې دالان کې مې وېړ کړي دي.

ـ ته ما غولوې هه. زه پوهېږم انډیوال دې دلته لامبېدلی.

ـ ځنګه دې خولې ته سمېږي چې داسې خبرې کوې؟ لږ خو شرم وکړه.

ـ ته لا ما ته نصیحت کوې؟

له کمځیو ونیوه. راچپه یې کړه. د لغتو وارونه یې پرې شروع کړل. د هرې لغتې سره د معصومې چیغه اسمان ته پورته کېده.

پنځه دقیقې همداسې تېرې شوې.

جبار ستړی شو. سا یې بنده بنده کېده.

پخلنځي ته لاړ. معصومې چیغې نه وهلې خو د هرې سا په اخیستلو یې زګیروي کول. زړه کې یې وویل ښه شو چې په همدومره خلاصه شوم. څو شېبې هماغسې پرته وه. چې دمه لږه یې سازه شوه، کرار کرار کېناسته. لاسونه یې پر دېوال تکیه کړه چې ولاړه شي. لا سمه اوچته شوې نه وه چې جبار له وینښتانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیوه. سر یې شا ته قاط کړ او پر مرۍ یې چاړه کېښوده. په ډېر غږ یې وپوښتل: ژر ووایه چا سره پرته وې؟

_ ته کله زما خبره منې؟ په خدای قسم ...

د چاړې پر څوکه یې زور وکړ او ویې ویل: ریښتیا راته ووایه. مرۍ به دې غوڅه کړم.

معصومې په ژړا وویل: مړه مې که _ چې _ بېغمه شم.

_ تا ته لکه چې ټوکه ښکاري، هه؟

د اورمېږه پر کینې شاه رګ یې چاړه تېره کړه.

وینې دارې وکړې معصومې یوه کړیکه وکړه او ولوېده.

څو دقیقې وروسته د جبار یوه ګاونډې ولېدل چې جبار منډې وهي او کالي او لاسونه یې په وینو سره دي. هغه د جبار کور ته لاړ. د کور دروازه ببرته وه. د دالان تل او دېوالونه په وینو ککړ وو. د دېوالونو په ټیټو ځایونو کې د ورغوي سور رنګه ټاپې وې. د معصومې پر غاړه هماغه یو ټپ و. خو په نس او سینه کې یې لس دولس ځایه سوري وو. د اولاد ځای یې هم څیرل شوی و. ګاونډي د معصومې پر لوڅ بدن خپل څادر وغوړاوه او له کوره ووت چې پولیس خبر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل

۲۷/۰۵/۱۳۸۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زه او ګناه**

یو ساعت کېده چې هغه کور ته ننوتلي وو. کله چې مور راغلو، تپه تیاره وه خو اوس سپوږمۍ راختلې وه او په تته رڼا کې یې یو ماشوم مالومېده چې د خپلې مور په غېږ کې ویده و. د دوارو مخونه د سپوږمۍ رڼا کې ښکارېدل. هغوي د کوټې په منځ کې پراته وو. مور خبر وو چې دا شپه په دې کور کې یوازې همدا مور او زوی پاتې وو. د هلک نیکه هم په خونه کې و خو هغه لاندې چت کې پروت و.

زمور کار نور خلاص و. ملګری مې څو شېبې مخکې له نغدو پیسو سره ووت. زه پاته شوم چې د سرو زرو چاره وکړم. ښه و، زر پیدا شول. د کوټې په بر سر کې د سینګار د مېز د پاسه پراته وو.

اوس نو زما د وتلو وخت و. په کراره دروازې خوا ته روان شوم. کله چې د کړکۍ له مخې تېرېدم زما سیوری د ښځې پر مخ ولوېد. همدا چې بل ګام مې واخیست او سیوری مې د هغې له مخې تېر شو، ناڅاپه راویښه شوه. زما په لېدو ځای په ځای کېناسته. لږه شېبه له ډاره پخپل ځای وچه شوې وه خو ځنګه یې چې خوله چیغو ته خلاصه کړه، ما ورټوپ کړ. کیڼ لاس مې د هغې پر خوله کېښود. یوه ګوته مې یې تر غاښو لاندې شوه. خوله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رالګوله. ما په بل لاس د هغې پوزه بنده کړه. سا یې بنده شوه. خوله یې سسته شوه او زما ګوته یې خوشې کړه.

زه یې شا ته ناست وم. د هغې سر زما پر ګونډې لګېدلی و. زورونه یې وهل خو له ما نه چېرې خلاصېدی شوه. نه پوهېدم چې څه وکړم. که یې خوشې کړم نو شور جوړوي. چیغې وهي او خلک راباندې خبروي. او که همداسې یې ونیسم، مري.

مړه یې کړم که پرې یې ږدم؟

دا خو د شرم خبره ده چې یوه بې وسه ښځه ووژنم. که نر وای بیا مې دومره چورت پرې نه واهه خو د ښځې وژنه؟ نه دا زما له لاسه نه کېږي.

لاس مې ورو ورو له خولې نه یې ایسته کړ. هغې په ټول زور چیغه وکړه خو چیغه یې همداسې په ستوني کې وچه شوه ما یې خوله ډېر ژر بېرته ور بنده کړه.

حیران وم چې څه وکړم. که همداسې یې خوشې کړم او په منډه له کوره وتښتم نو څنګه به شي؟ نه داسې نه کېږي. که دغه کوټه اول چت کې وای خو بیا یو څه کېده. خو اوس تر څو چې زه له دې دویم چت نه کوزېږم، د ښځې چیغه د هغې خسر ـ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویښوي. هغه به له لاندې نه دې خوا ته راودانګي او ما به په پوړیو کې ونیسي.

اندېوالان مې د سرای د دیواله شا ته پټ دي. هغوې بـه وتښـتي خو زه به ونیول شم.

ښځې په دې ټوله موده کې هڅه کوله چې ځان خوشې کړي. خو اوس یې لغتې هم غورځولې. د کوټې کنج ته مې راوڅکوله ما وې چې لغته یې پر کوچني ونه لګېږي. که یو ځل ماشوم را ویښ شي نو زما کار ختمېږي. بیا نو د تیښتې لاره راته نه پاتې کېږي.

چاړه مې له جیبه راوایسته. ما وې له شره به یې ځان خـلاص کـړم خو ماشوم ته مې ورپام شو زړه مې وسـو. کـه غټـوکی وای، دومـره پروا مې نه کوله خو هغه به ایله د لسو میاشتو و.

چاړه مې بېرته جیب ته کړه. په یوه لاس مې د هغې خولـه او پـوزه دواړه ټینګې نیولې وې په بل لاس مې د هغې لاسونه چې زمـا پـر لاس یې نوکان ښخ کړي وو، ټینګ کړل.

هغې شټنکې وهلې. لکه سړی چې په اوبـو کـې ډوب شي، هـرې خوا ته یې لاس او پښې اچولې. زړه مې هم پرې خوږېده خو ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم راباندې ګران و. څه به مې کړي وای؟ د چارې په فکر کې وم چې څنګه به له دې جنجاله ځان خلاص کړم.

نه پوهېږم چې څومره وخت په چورت کې ډوب وم خو یو وخت مې پام شو چې ښځه نوره کراره شوې ده، لاس او پښې نه غورځوي. ټول بدن یې مړ پړ دی. ورو ورو مې لاس له خولې یې نه لرې کړ خو هغې چیغه ونکړه.

غوږ مې پوزې ته ورنږدې کړ. سا یې نه کښله. هغه مړه شوې وه.

یو دم مې زړه کښته ولوېد. ټول بدن مې په لړزه شو. ښځه مې هماغسې پر ځمکه څملوله. زه په خاپوړو ورنه رهې شوم د ودرېدو توان مې نه درلود. ډېر وېرېدلی وم. د ماشوم له څنګه هماغسې په خاپوړو تېر شوم. کرار کرار ودرېدم او په لړزاندو ګامونو له کوټې نه ووتم. نه پوهېږم چې د سرای تر دروازې څنګه ورسېدم او څنګه پر دیوال واوښتم. انډیوالان مې دواړه زما په لیدو په بېړه زما خوا ته راغلل. په ټیټ غږ یې را نه وپوښتل: ته چېرې ورک شوې؟

زه لکه پاڼه رېږدېدم. غاښونه مې کړس کړس سره لګېدل. لکه سړی چې د ملاریا تبې نیولی وی بیخې همداسې لړزې اخیستی وم. خبرې مې پرې پرې کېدې. ومې ویل: هه... غه ... ښـ ... ـځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سم غـړېــږه. ولې داســې ربـړدې؟

- هغه... هغه ښځه... رانه مړه شوه.

- ولې؟

- را... راویښه شوه.

- څنګه دې ووژله؟ چاړه دې څه کړه؟

- راسره ده. په جیب کې... هغه مـې... پـه لاس... بانـدې مـړه کړه.

دواړو یو بل ته سره وکتل. بیا یې وخندل. یوه یـې وویـل: تـوره بـلا ورپسې. ښه شو چې راووتې.

بل یې وویل: ډاربــږه مـه. دې کـارو سره ورو ورو بلدېــږې. درځــئ چې ځو. هله!

له هغې شپې نه درې کاله تېر شوي. لس دولس کسـان مـې نور هم وژلي دي خو اوس مې لاسونه نه ربړدي. د سړي وژنه راتـه داسې ده لکه قصاب ته چې د مال وژنه ده. خو تر اوسه پورې مې هم د هغې شپې یادونه ځوروي. هر کله چې د شپې یوازې اوسـم، هماغه شپه مې راپه یـاد شي. هماغســې وېـره رابانـدې راشي. زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې ولوېږي. سر راباندې وڅرخي. لاسونه او پښې مې، ټول بدن مې وربېږدي. ځای پر ځای کېږم. سګرټ ولګوم. سر په سر څو کشه ورنه وڅکوم خو خوند رانکړي. ایسته یې وغورځوم. د ماشوم چیغې واورم چې مورې مورې نارې وهي او ژاړي. مور یې پرته وي. دی په خاپوړو هغې ته ځان ورسوي. په خپلو کوچنیو لاسونو د هغې زنه وښوروي او مورې مورې نارې ووهي. خو مور یې هماغسې پرته وي.

له دې سره توبې وباسم. خدایه توبه مې کړې... بد مې کړي... ته مې وبخښې... یا خدایه دا څه بد مې کړي... ته مې وبخښې.

په دې خبرو هم هوسا نه شم. وژاړم. خدای ته زاري وکړم او وژاړم. تر هغې وژاړم چې نور په ځان پوه نشم او خوب راشي. خوب! یوازې خوب مې له دې کړاو نه خلاصولای شي. وېده شم. خو سهار چې له خوبه راویښ شم، هر څه مې هېر وي. سهار بیا خپلو ملګرو ته ورشم. پوښتنه وکړم: هلکانو! څنګه چل دی؟ کوم نوی ښکار مو درک کړی دی که نه؟

کابل _ ده افغانان، اریا کلینیک

۱٤ _ ۰۳ - ۱۳۸٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښاپېرۍ او شیطان

په ټول ژوند کې مې دومره ښکلې نجلۍ نه وه لیدلې. تورې غټې سترګې، نرۍ لوړه پزه، نرۍ ګلابي شونډې، تک سپین مخ، دنګه غاړه. سره پنجابي کالي یې اغوستي وو.

په زړه کې مې درزي ته دعا کوله چې ګرېوان یې ورته ارت ګنډلی و. دې چې کله سر ټیټاوه نو سپین تیونه یې جوت ښکارېدل.

ځان سره مې ویل چې د ملي بس ډرېور وګوره او دا د کوه قاف ښاپیرۍ خو هغې به چې د سترګو لاندې راته وکتل او په سرو شونډو به راته وموسل نو زړه به مې په درزا سره ویل چې بخت دې راوینښ شوی. نجلۍ هم دربانديې زړه بایللی.

ناست پر جلو وم؛ خو فکر مې بل ځای و. نه پوهېدم. چې په کوم ګېر کې روان وم او له قرغې څخه تر باغ بالا پر ځمکه راغلی وم که په اسمان. یو یو وار به مې له هینداري سرک ته وکتل؛ خو بېرته مې سر لکه فنر ښي لاس ته ګرځېده او سترګې مې د هغې په سترګو ښخېدلې. هر ځل چې به ما ور وکتل؛ نو د نغمې په شان به یې خپلې تورې څڼې پر مخ رااړولې. بیا به یې د سر په یوه ټکان ورته څنډ ورکاوه او ما ته په کتو موسکۍ کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجيبه حال مې و. د هغې له هر نظر سره زړه مې کښته غورځېده. په ټيپ کې د مغول اعظم د فلم سندره «پيار کيا تو ډرنا کيا» چالانه وه. زما سر ورسره بېخوده خوځېده او د ډول له هر درز سره زما لاس هم پر شتړنګ يو ټک وركاوه. ما يوه شپه سر په سر درې دانې سګرټې څکولي وو؛ خو والله که يې داسې نشه کړې وم لکه د هغې سترګو چې اوس نشه کړی وم.

ما همداسې موټر چلاوه. چې له شا څوکيو راباندې چيغې شوې: وه استاذه! ودروه – خدای دې خوار که! سړی دې وواهه.

پر بريک مې پښه ټينګه کړه. موټر مې د سړک څنډې ته کړ. په هينداره کې مې وليدل. چې دېرش څلوېښت ګزه لرې خلک پر سړک راټول دي. زه د موټر له مخکينۍ دروازې کښته شوم. د سپرليو په منځ کې د هغو خوا ته روان شوم. کلينر مې هوښياري کړې وه، لا د وخته يې ځان ايستلی و. د خلکو په ګڼه ګوڼه کې مې لار جوړه کړه. سړي ته مې ځان ورساوه. د نهو لسو کالو هلکی و. د مکتب له بکس يې کتابونه هرې خوا ته تيت شوي وو. په يوه لاس کې يې لا هم يوه ټوټه وچه ډوډۍ کلکه نيولې وه. له خولې. پوزې او غوږونو يې وينې رابهېدلې وې. خوله او سترګې يې خلاصې وې. د سر د کوپړۍ نيمه يې نه وه. څو ګامه هاخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ماغزه پر سړک پراته وو. بيخي د پسه د ماغزو غونډې ګونځې ګونځې او سپين وو. ماغزه لا هم داسې ښوربېدل لکه مستې چې وشاربې يا لکه حلال کړی پسه چې شنډکې ووهي. د مړي په ليدو مې وضع خرابه شوه. زړه مې درزېده. ټول بدن مې رېږدېده. پر تندي مې يخې خولې راغلې. سترګې مې له اوښکو ډکې شوې. دې وخت کې يو چا غږ وکړ: وه وروڼو دا موټروان څه شو؟

بل يې وويل: هلئ چې ونه تښتي.

ډېر وارخطا شوم. نه پوهېږم چې ولې د دار کړۍ مې سترګو ته ودرېدله او ځان مې په کې پانسی وليد. ګومان مې کاوه. چې ټول خلک زما خوا ته ګوري؛ خو ومې ليدل. چې هغوې چارچاپيره ګورې. موټروان لټوي. څو تنو د موټر خوا ته منډې کړې. له هغه ځايه يې غږ وکړ: موټروان خو نشته. تښتېدلی دی.

زما د چوکۍ شا ته ډېرې ښځې ولاړې وې؛ ځکه خو نارينوو نه وم ليدلی.

په زړه کې خوشاله وم چې چا نه وم پېژندلی. سوکه سوکه، چې د نورو راته پام نه شي، له ګڼې ګوڼې ووتم. په ټيکسي- کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېناستم. کور ته ولاړم. ورور ته مې په ولاړو کیسه تېره کړه او د تورخم د اډې لاره مې ونیوله.

له هغې ورځې اوس پوره شپږ میاشتې تېرېږي. په پېښور کې مزدا بس چلوم. تر ډېرې مودې مې چرت خراب و. سپرلیو ته مې بیخي نه ورکتل؛ خو هغه بله ورځ مې بیا چپ لاس ته پر اوله چوکۍ یوه سپینه کوتره ناسته وه. نه پوهېږم څنګه مې سترګې پر هغې ولګېدې؛ خو په هغه لومړي نظر سره سترګې په سترګو شوو. ښه شېبه مو سره د سترګو جنګ وکړ.

بیا مې زړه په درزا شو. د سترګو واک رانه ورک شو. چې هر څو مې سترګې مخامخ سړک ته نیولې. بېرته پخپله د هغې لوري ته کږېدلې. هغې هم ډول ډول نخرې کولې. کله یې لاندنۍ شونډه په غاښ چیچله. کله یې راته سترګه وهله او چې کله به د نورو پام نه و؛ نو شونډې به یې د مچولو په دود سره راغونډولې او یوې موسکا سره یې غبرګولې. د هغې له هرې ادا سره زه لا مستېدم او د زړه درزا مې لا زیاتېدله. وروستی ځل چې مې وروکتل. د هماغې نجلۍ په شان یې زلفې پر مخ خورې کړې او د نغمې په چم یې سر ته جټکه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو نا څاپه مې د هغه ماشوم سر را ياد شو چې ماغزه يې پـر سـړک پراته وو. له دې سره سر راباندې درووند شو. پر سترګو مې توره شپه راغله. بې سېکه شوى وم. موټر مې په سـختۍ ودراوه. سر مـې پـر شټرنګ کېښود. څو شېبې هماغسې پاتې وم.

کلينر راباندې غږ وکړ: استاذه! څه له خيره.

لږ تم شو. بيا يې د موټر باډۍ وډبولـه. غـږ يـې وکـړ: څـه لـه خيره! څوک نه کوزيږې.

زه هماغسې غلى وم.

کلينر راغى. پر اوږه يـې لاس راکيښـود. ويـې ويـل: اسـتاذه! خير خو به وي؟ که ټيک نه يې چې ډاکټر له دې بوزم.

سر مې پورته کړ. ومې ويل: نه. بس پر سر مې چکـر راغـى. اوس ښه يم.

پر شيطان مې تو لعنت وويل او موټر مې چالان کړ.

کابل

حيات افغان - هند روغتون

۱۳۸٦ _ ۰٥ _ ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غیرت

گل پري د پېښور په بورډ بازار کې په لړزاندو ګـامونو دې خــوا هـا خوا تله او راتله. اوږد ګلـداره کمیس چـې لـس دولـس پیونـد یــې خـوړلي وو په تن او تور سوری سوری څادر یې پـر سر و. مخ یې په خاورو او دوړو کـې پټ و او خولو لارې پـرې جـوړې کـړې وې. یـو لاس یـــې وړانــــدې نیــــولی و. پــــه ژړه غــــوني غــــږ یــــې ویــــل: د خدای لپـاره خـیر کـړئ! کونـډه یمـه. یتـیمان لـرم. خـدای دې عوضونه درکړي... د خدای په نامه!

نور یې د ګرځیدلو توان نـه درلـود. د برېښـنا سـتنې تـه یـې تکیـه ولګوله او په چرت کې ډوبه شوه. تیر وختونه یې ور یاد شول. خپل میـړه، زړورخان ور یاد شو. هغه ځان ډېـر غیرتي سـړی بالــه. دې څو څو ځله په زاریو ورته ویلـې وه چـې: سـړیه جنګ تـه مـه ځــه. کـه خدای مکړه څه درباندې وشي، زه به څه خاورې پـه سر کـړم. یو ورور دې و، هغه هم شهید شو. ما چاته پرېږدې؟

خو میړه یې ویلي و: دا د بې غیرتـۍ خبــرې بـه نـه کـوې. ملایـان وایي اسلام په خطر کې دی. جهاد رابانـدې   پـرز دی. کـه زه مـړ شم نو پاک شهید به یم. جنت به مې ځای وي. ته که بل څوک نه لرې نو خدای خو لرې خدای به دې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د هغې ورځې خبرې وې چې زړور خان جنګ ته د تلو په وخت کې ګل پرې ته کړې وې او لا یوه میاشت  نه وه تیره چې د مرګ خبر یې راغی.

د یوه موټر هارن د ګل پري د دغو ترخو یادونو سلسله وشلوله. ګل پري سر راپورته کړ او د موټر خوا ته یې وکتل. تور لوکس موټر و. ټیرونه یې پنډ پنډ او ښیښې یې تورې وې. د موټر ښیښه کښته شوه د موټروان په څنګ کې یو چاغ تور رنګه ګنجی سړی ناست و. په سترګو یې سپینې عینکې وې چې سترګې یې غټې ښکاره کولې. غټ غټ تاو کړي بریتونه یې وو. د سپین کمیس تڼۍ یې خلاصې وې او د سرو زرو هار یې چې لکه زنځیر غونډې و، مالومېده. تور واسکټ یې اغوستی و.

ګل پري د موټر په لیدلو هکه حیرانه شوه. چاغ سړي ورته په ګوته اشاره وکړه. نه پوهېده چې څه وکړي. موټر بیا هارن وکړ. لا یې فکر کاوه چې څه وکړي. ور یاد یې شول چې لورکۍ یې د دوو ورځو راهیسې وږې ده. هر ماښام په ژړا ژړا ډوډۍ غواړي او همداسې په ژړا ژړا څملي. دې پخپله هم دا دوې ورځې د ډوډۍ څکه نه وه کړې. د ځان پروا یې نه درلوده خو د لور لوږه او ژړا یې نشوه زغملی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر یو ځل بیا هـارن وکـړ. دې چــې پورتـه وکتـل، بیـا هـم چـاغ سـړي ورته اشاره وکړه چې راشـه.

زړه نا زړه په کرار کرار د موټـر خـوا تـه روانـه شـوه. کلـه چــې ور نـږدې شـوه، د موټـر شاتنۍ دروازه خلاصه شـوه. دا ور وختله.

موټـر ګړندی روان شو. د فیز تري حیات ابـاد یـوه کوڅـه کـې تـاو شو. د یوه لوکس درې پوړیز کور په دروازې ننوت.

دوه ساعته وروسته ګل پـري له هـغه کوره راووتـه. خــو اوس هــغه پخوانۍ ګل پـري نه وه. هـر څـه یې بدل شـوي وو. لنــډ پنجـابي کالي یې په غاړه وو. سـور جارجټ ټـیکری یــې پـر لــمدو ویښــتانو پـروت و. مخ یې پاک سوتره و. سپــوږمــۍ غونـدې ځلــیده. ډېــره ښکلې وه. تورې بادامي غټــې غټــې سـترګې، تک سپین مخ چــې د کمخـوني په اثـر لا سپین شـوی و، نرۍ شونډې او د ورځو مـنځ په تندي باندې شین خال په ریښتیا چې ورنه ښاپیرۍ جوړه کړې وه. هغه صفتونه چې ملایان یې د جنت د حورو په اړه کـوي، ټـول په ګل پري کې وو.

خپلې زړې جامـې یې په یوه دسمال کـې تـاو کـړې او پـه تخـرګ کـې نیولې وې. په بل لاس کـې یــې د زرو کلـدارو دوه لوټونـه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن د سپېڅ جي سره درې تنه نور انډيوالان هم وو ځکه خو يې دومره زياتې پيسې ورکړې وې.

گل پري سر کښته اچولی و. ټول بدن يې رپيده.

لکه ماشوم چې نوی په پښو شي، د هر پله په ايښودلو يو ځل درېدله او بيا يې بله پښه مخته ايښودله. له ځانه سره يې وويل: زړور خانه! تا خو په اسلام غيرت وکړ. خدای خبر چې تا ته به د جنت حورې رسيدلې وې که نه خو ستا ښځه ...

کجکی ١٦،١١،٨٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مرګ که شهادت؟**

د کانټېنري موټرو کتار له کندز څخه مزار خوا تـه روان و. د سـهار یولس بجې وې. منی پیل شوی و خو تېرو پر له پسې وچکالیو هوا ډېره توده کړې وه. منی هم د اوړي په شان ګرم و.

کاروان ټکنی تګ درلود. له دې نـه جوتېـده چـې کانټېنرونـه ښـه درانـه دي. پـه کـانټېنرونو کـې انسـانان بـار وو. هغـوی د انسـان سـوداګرانو پـه دې صـندوقونو کـې اچـولي وو. دا د طالبـانو هغـه افراد وو چې پـه کنـدز کـې ملیشـو تـه تسـلیم شـوي وو. د ملیشـو مشرانو ژمنه کړې وه چې دوی به د تسلیمېدو پـه بـدل کـې خپلـو کورونـو تـه اسـتول کیـږي. خـو اوس یــې پـه شـبرغان کـې خپلـو زندانونو ته رهي کړي وو. هر کانټېنر کې تر سـلو زیـات کسـان پـه ولاړه سپاره وو.

ځلمی عبدالباری هم یوه کانټېنر کې ولاړ و. پنځه میاشتې کېدې چې د طالبـانو جلـب و احضـار لـه هلمنـد څخـه پـه تخـار کـې د هزارباغ کمربند ته راوستلی و. هغه یې اصلاً د دریو میاشـتو لپـاره راوستلی و خو همدا چې درې میاشتې یې پوره شوې، د امریکې د یرغل خبره توده شوه او مشرانو یې پرېکړه وکـړه چـې هـېڅ څـوک کور ته نشي تلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هم د نورو طالبانو په څير فکر کاوه چې ريښتيا هم خپل کلي کـور خـوا تـه روان دی نـو ځکـه يـې د خپـل کـلي منظـرې لکـه د ټلويزيون د هينداري پر مخ چې وي، د سترګو له مخـې تېرېـدلې. په هلمند سيند کې لامبو وهل، د کجکي پر غاړه د ماهيـانو نيـول او وريتول، انډيوالانو سره پر لامبو شرطونه تړل او د شرطونـو ګټـل. څه خوږې شېبې وې.

هغه په لامبو کې تر ګردو انډيوالانو تکړه و. هره غوټـه يـې تـر سـل ګزو کمه نه وه. کېداې شي يو علـت بـه يـې دا و چـې عبـدالباری هېڅ عمل نه درلود. د دې خوږو يادونو ننداري ډېر دوام ونـه کـړ . تنـدې او ګرمـۍ د ټولـو وضـع خرابـه کـړې وه. پـه کـانټينر کـې د ستنې په اندازه سوری هم نه و نو ځکه هوا هـم مـخ پـه خلاصـېدو وه. ټولو ته سا بندي غونـدې حالـت پيـدا شــوی و. کانټــينر لکـه تناره غـونـدې سور شوی و. دېوالونه يې د سکروټې په شان سره وو او د سړي لاسونه يې سـوځول. د خولـو بـوی او د اوسـپنې د زنـګ بـوی د هغـوی سـا بنـدي لا پســې زياتولـه. هغـو کسـانو بـه چـې دېوالونو ته نږدې وو په غبرګو لاسونو د کانټينر دېوالونه ډېـول خـو چا به مـوټـر نه دراوه او د دوی لاسـونه به وسوځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوي وضع وار په وار لا خرابېده. چا باندې بـه ضـعف راغـی. د چا به خوا وگرځېده. څوک به قیونـه وهـل. د چـا بـه نـارې سـورې پورته وې. څو دقیقې وروسته تیار محشر جوړ شو. هر چا بـه هڅـه کوله چې د نورو پر اوږو وخېـږي په دې تمه چې پورتـه بـه هـوا یـو څه زیاته وي او د دوې سابندي به لېرې کړي. خو دغه هڅــې هـم بې گټې وې او په څو شېبو کې ټول یو په بل پسې سر پـه سر سره پرېوتل او یو په بل پسې یې سا وخته. د عبدالباری وضع هم ډېـره خرابه وه خو لا ژوندی و. ښایي په دې خاطر چې سا یـې پخـه وه. زړه یې په کراره خو گړندی درزېده. سر یې پر له ځرخېده ،خوا یې گرځېده خو د قی وهلو وس  ورسره نه و ځکه چې نس یې تـش و. پر سترگو یې توره تیاره راغلې وه. د نورو انډیوالانو د مرگ لېدو یې د ژوند تمه شکولې وه.

د حاجي مولوي خبرې ور په یاد شوې. پنځـه میاشـتې پخـوا چــې عبدالباری یې د نـورو ځلوېښـتو انـډیوالانو سره یـو ځـای تخـار تـه بیولی و، د خط مشر چې ټولو حـاجي مولـوي صـاحب بالـه، ورتـه وینا کړې وه او ویلي یې وو: «مـوږ  او تاسـې د شر و فسـاد پـر ضـد جهاد کوو. د جهـاد اجرونـه خـورا ډېـر دي. تاسـې هـېڅ بـاک مـه کوئ. که زخمي شئ، په درد نه پوهیږئ. د درد پر ځای به یو ډېـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږ احساس ولرئ. دلته مرگ نشته. څوک چې وژل کیږي، د شهادت درجه ورپه برخه کیږي. شهید د ځنکدن په عذاب نه پوهیږي. عزراییل ورته یو گل راوړي او دی چې څنگه هغه گل بوی کړي، سا یې وځي»

عبدالباری د ځنکدن په حال کې و خو په عذاب یې پوهېده. عزراییل ورته گل نه و راوړی. د هغه په پوزه یوازې د خولو او د اوسپنې د زنگ بوی لگېده. وروستۍ خبره یې چې په ذهن کې وگرځیده همدا وه «مرگ که شهادت؟» او بیا یې سا ورکړه.

کابل ١٣٨٦ - ٠٤ - ٠٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قومندان پلنګ

د بازار ورځ وه. یوه موټر کې مې شپاړس بوجۍ کچالو بـار کـړی او کندز ښار ته روان وم. ډېره موده شوې وه چې ښار ته نـه وم تلـلی. هر څه راته پردي غوندې ښکارېدل. له «شوراوه» تېر شـوی او «سر دورې» ته ورکوز شـوی وم چــې ګوپیچـه والا پاټکیـانو ودرولـو. یـوه چې برګ دسمال یې د خپلو اوږدو څڼو له پاسه تړلی و او په لاس کــې یــې کلاشــینکوف ځړېـده، راوړانـدې شــو. د مـوټر چارچـاپېره وګرځېد او پوښتنه یې وکړه: بار د چا دی؟

ځواب مې ورکړ: زما دی.

ـ ما پسې راشه.

هغه مخکې زه ورپسې روان شوم. شـل دېـرش ګـزه لـیرې یـوې زړې کلا ته ننوتلو. د کلا په بر سر کې څو کوټې او په منځ کې یې د سپېدارو د دوو لویو ونو سیوري ته چــې د ویـالې پـه څنـډه کــې ولاړې وې، یوه چوتره وه. پر چوترې درې شــپږ ګـزي د مـور غـالۍ وېړې وې. څلورو څنډو ته یې بخملي نیالي پراته وو.

پنځه کسان د یوه برګ دسـمال شـاوخوا تـه ناسـت او د کمسـایي دانې یې کولولې. د صفې څنګ تـه لـس پنځـه لـس ګوپیچـه والا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوپکیان د ویالې غاړې ته ناست او د سګرټیو نه یې لـوخړې پورتـه کـولې. څښیـور خپلـې ګونـډې پـر غـالـۍ ولګـولې او چوپـه خولـه کېناست. څو چې یوه سړي لـه میدانـه پیسـې راټـولې کـړې. اول څښیـور او بیـا نـورو د «دس خـوش ـ دس خـوش» نـارې وکـړې. د پیسو ګټونکي دوه بنډله لس زري لوټونه څښیور ته ورواچول او وې ویل: واخله دا پر هلکانو وویشه.

همدې وخت کې یې ما ته پام شو. له څښیـور نـه یـې وپوښـتل: قلیچه! دا څوک دی؟

ـ بار والا دی صایب.

له سر نه تر پښو پورې یې له نظره تېر کړم او ویې ویل: څـه شی دې بار کړي؟

ـ یو څه کچالو دي.

ـ چیرته یې وړې؟

ـ ښار ته. خرڅوم یې.

ـ ماسول ( محصول ) یې راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د څه شي ماسول؟ د بل ځايه خو مې نه دي راوړي. د خپلـې ځمکې مې دي.

ـ قليچه ! دا سړی خو را ته نوی ښکاري. جاسوس ماسوس خو به نه وي؟

قليچ ما ته په ځير وکتل او ويې ويل: والله ما خو هم پخوا نه دی ليدلی.

زه په دې ټوله موده په دې فکر کې وم چـې دا سـړی خـو را تـه اشنا غوندې ښکاري. اوږدې ځنې، تک سـپين مـخ، نـری ښـکلې شونډې، په رانجو نری تورې کـړې سـترګې، دنګـه سـپينه غـاړه او نری ښځينه اواز يې راته ډېر اشنا وو.

هو را په ياد مې شو. دا خو پخپله فېروز جان و. نريو بريتونـو او پـر زنې څو تاره ږيرې، ګوپيچې او د مرميو غاړکي يې رنګ بـدل کـړی و. فېروز جان د حاجي مـراد بـای هلـک و. دا څـو کالـه مـې نـه و ليدلی.

پخوا به چې کله کله مراد بای مېلمستياجوړه کړه او موږ بـه ورغلـو نو فېروز جان به تورې سترګې، سرې شـونډې، سره لاسـونه او سره اننګي، ښځينه کالي په تن، سالو په سر او زنګ په پښو ميدان تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو. دمبوره چیان به یې ګډا ته نشول ټینګېدای. شپه به له نیمې واوښته، دمبوره چیان به ستړي هلاک اوړد وغځېدل خو دی بـه لا هم په میدان کې و او زموږ چکچکو ته به ګډېده.

پنځه کاله مخکې اوازه ګډه شوه چې فېروز مراد بای ویشـتلی او د هغه له نوې ښځې سره تښتېدلی. خلکو ویل چې فېروز د بـاې لـه نوې ښځې سره تار غځـولی و. رښـتیا خـو دا وه چـې حـاجي هغـه ښځه چې د ده د لور په عمر وه، د زرکانو په جنګ کـې ګټلـې وه. که نه دی خو د ښځو شوقي نه و. د شپې به په جلا کوټـه کـې لـه فېروز سره ثملاسته. چې په کور کې به یې هر کار و نـو فېـروز بـه یې استاوه. کوروالا یې له فېروز نه ستر نه کاوه. یوه ورځ چې مـراد بای له خپلې مشرې ښځې سره لانجه کـړې وه، هغـې ورتـه پیغـور ورکړی و چې شرم وکړه ښځه دې له فېروز سره جوړه ده او ته ما ته ببرېږې.

مراد غوښتل چې فېروز وولي خو هغه پر وار ړومبی کړ او پر تنـدي یې وویشت. وروسته بیا خبر شوم چـې فېـروز پـه یـوه تنظـیم کـې قومندان شوی خو خبر نه وم چې چېرې اوسي.

د فېروز غږ له چورتـه وایسـتم: تـا تـه وایـم! څـوک یـې؟ چـا تـه جاسوسي کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ زه قدوس يم... د مرادباى انډيوال. فېروز جانه ما نه پېژ...

پر اوږه مې يو سخت ګوزار وشو. خبره مې غوڅه شوه. پړمخې وغورځېدم. د لغتو او کنداغونو باران راباندې جوړ شو. ولې، ملا، ورنونه، سر، يو ځاى مې هم روغ پاتې نشو. يو ډول تود شى مې غاړې او زنې خوا ته را وبهېده. لاس مې پر تېر کړ. وينې وې.

څنېيور له ويښتانو ونيوم. پورته يې کړم او د فېروز مخې ته يې ودرولوم. ټول بدن مې خوږېده د ودرېدو وس را کې نه و. فېروز راته بد بد وکتل خپل اواز باندې يې زور وکړ چې ډډ شي او ويې پوښتل: زه څوک يم؟

ـ ته فېروز جان يې.

په ټول زور يې يو سوک په خوله راکړ او چيغه يې کړه: زه قومندان يم. قومندان پلنګ.

کابل

افغان ـ هند روغتون

۱۳۸٦ ـ ۰٦ ـ ۰٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له زوی سره خواله**

داود جان به اوس ستر شوی وي. زه چې دې خوا ته راتلم، د نهو میاشتو و. خاپوړې یې کولې ـ یو... دوه... درې ـ روژه کې مې درې کاله پوره شول. له روژې نه تر لوی اختره دوې میاشتې او یوه میاشت بله دا یې درې میاشتې ټیک درې میاشتې باندې درې کاله کیږي چې نه مې دی لیدلی. ماما یې چې اختر کې زما پوښتنې ته راغلی و، وویل: داود جان ډېرې خوږې خبرې کوي. چې څوک ورنه پوښتنه وکي چې «پلار دې چېرې دی؟» هغه په خوږه ماشومانه ژبه ځواب ورکوي «پلال مې د دېوانو جنګ ته تللی زما پلال ډېل غیلتي سړی دی» مانا پلار مې ډېر غیرتي سړی دی.

داود جانه زویه! د زړګي سره! پلار دې رېښتیا غیرتي دی. څه وکړم، همدې غیرت له تا نه لیرې کړم. ګومان کوم چې هغه کابلي تروزي به مې رېښتیا ویل. هغه راته ویل چې «دغه مرګونه چې تاسې یې خپلو کې سره کوئ، دا غیرت نه دی، دا بې غیرتي ده.» ما ورسره نه منله. ویل به مې چې ته فارسیوانانو سره لوی شوی یې. ته په غیرت څه پوهېږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اوس چې وینم، لکه چې هغه ریښتیا ویلي وو. خپل اوښی جنت گل مې وواژه. زما خور یې وهلې وه. هاغه ورځ مې خور ځومره راته ژړلي و. یوه سترگه یې تکه شنه اوښتې وه. ما هم څو ځلې خپله ښځه همداسې ډبولې ده. ستارگل لالا وایي چا چې خپله ښځه نه وي وهلې، جنت ته نه ځي ځکه چې ښځه ناقص العقله ده. مور ته مې دې هم خدای خیر ورکړي، په هاغه ورځ یې ځومره زهیر کړم چې «ته بې غیرته څنگه راغلې! خور دې په سرو سترگو درته ژړل خو تا هېڅ هم ونه کړل؟ پلار دې درې مړي کړي وو. خدای دې یې وبخښي داسې غیرتي سړی و. تا غونډې خو نه و.»

زه هم پښتون یم، پیغور کله منلی شم. هغه هم بیا د خپلې مور پیغور! ماشین مې په اوږه کړ. د هغوی کلي ته لاړم؟ جنت گل په پټیو کې کار کاوه؟ چې ورننږدې شوم، د لیرې نه یې غېږه را ته خلاصه کړه. د هغه خبرې مې هېڅ نه هېرېږي. «اوهو ناځوانه! ته چېرته یې. گهیځ مې درته چرگ حلال کړی و خو چې خبرېدم ته وختي تښتېدلی وې. خیر دی زه تا غونډې ناځوان نه یم. بل چرگ به درته... دا څه کوې؟ ماشین سره ټوکې مه کوه... وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلکه! لیونی شوی خو به نه یې؟ اوهو گوته دې له ماشې ایسته که... دا څه کوې؟ ماشین ډک دی...»

ما هېڅ ونه ویل. پر ماشې مې گوته ټینگه کړه. ډز شو. سړی پر ځمکه ولوېد او زه وتیښتم. څو پورې چې د هغه ورونه را رسېدل، ما ځان د ماما کور ته رسولی و. له هغې ورځې ستا دیدن راباندې حرام شو. اوف! داود جانه! غیرت مې وکړ خو اوس خپل کور کلی رانه پاتې دی. د جنت گل ورونه او د اکا زامن یې لارې څاري. که ورپېښ شم نو د ژوند څکه به هم ونه کړم. له مرگه نه ډارېږم خو په دې وېرېږم چې تاسې به څنگه وکړئ. ځمکه مې د تره زامنو ته پاتې ده. زه د پلاره همدا یو سر پاتې یم. تا غوندې زه هم ورور نه لرم. د تره زامن خو مې اوس سم خلک دي، خپله دهقاني اخلي او نوره غله دانه تاسو ته درکوي. خو هغوی هم په پوست پاک نه دي. سبا ته به هغوی هم راته تربور شي. که یو ځل زما سترگې پټې شي نو پټې څه چې ان ستا مور به هم ځان ته په نکاح کړي.

نو ما څه گټه وکړه؟ پخپله د عمرونو مساپر شوم، کلی را نه پاتې شو. د پنجاب په دې گرمیو کې د خښتو مزدوري کوم. شپه ورځ کړېږم. هره شپه مې سترگو ته درېږې. هره شپه دې په خوب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینم. خدای خبر چې ته به همداسې یې چې زه دې په خوب کې وینم که نه.

خورکۍ مې بې چاره هره ورځ ډبول کیږي. د کور ټول کارونه پر هغې دي. د غوا لوښل، د سرې ټولول، غویانو ته واښه رېبل، اوبه راوړل، لو او لور او ټول نور کارونه. خپل وړوکي لېوره ته ناسته ده. هر لیور چې یې کور ته ننه وځي او د خپل ورور عکس ته گوري نو دا له کمڅیو را نیسي او چې څومره وس لري، هغومره یې وهي. د خوابښې یې هم چې هر وخت زوی ور په یاد شي، د دې ویښتان شکوي. پخپله هم ژاړي او دا هم ژړوي. زموږ له کوره یې منع کړې. ښو شپو ته یې هم نه ورولي. د نري رنځ مریضانو غوندې وچه کلکه شوې. دا خبرې مې مور په کسیټ کې کړې وې. په ډېرو ننواتو هغه خلک دې ته راضي شوي دي چې یوازې زما مور په اختر کې لاړه شي او خپله لور وگوري.

څو بجې شوې؟ اوهو! یوه نیمه بجه ده. ټوله شپه مې په ویښه تېره کړه. سبا وختي بیا زه یم او د خښتو قالب. ته ودرېږه چې یو سگرټ خو وڅکوم. دا قوطی خو تش دی. نن شپه مې څو دانې سگرټ څکولي؟ ته ودره! لس دانې هغه بل دبي کې وې، شل هم دا. دېرش دانې سگرټ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

يه خدايه! هر څه دې رانه واخيستل خو دا خوب رانـه مـه اخلـه
که نه نو لېونی به شم... ټوخه... ټوخه...

کابل

افغان _ هند روغتون

۱۳۸٦ _ ۰٦ _ ۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماما او خوریی**

۱۹۹٤ کال و. څو ورځې کېدې چې تقاعد مې اخيستی و. د جرمني په فرانکفورت کې اوسېدم. په همدې ښار کې زېږېدلی هم وم. د کريسمس ورځ وه. ما وار له مخې پتېيلې وه چې کريسمس کې به له ځانه نيکولاس يا پاپا نويل* جوړوم. پرون مې له بازاره د نيکولاس ځانگړې جامې اخېستې وې. اوږده سره بخملي چپنه، اوږده ږېره او بريتونه، سره بخملي خولۍ او اوږدې سپينې څنې.

زموږ د ښار په يوه څنډه کې د بهرنيو کډوالو يو کمپ و. په دې کمپ کې د بيلابېلو هيوادونو کډوال دېره وو. ما پرېکړه کړې وه چې د همدې کډوالو ماشومانو ته به سوغاتونه ورکوم. د نيکولاس جامې مې واغوستې. په څو کڅوړو کې مې د ماشومانو لپاره سوغاتونه واچول او خپل موټر کې د کمپ خوا ته وخوځېدم. د کمپ له مسول څخه مې اجازه واخيسته او د ننه لاړم.

ښکلې ورځ وه. له اکتوبر څخه تر ننه پورې مو لمر نه و ليدلی خو نن آسمان شين و. د کډوالو ماشومان د کمپ انگړ ته راوتلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره لوبې يې کولې. په هغو کې ځينې پوهېدل چې نيکولاس کوچنيانو ته سوغات ورکوي نو زما خوا ته يې رامنډې کړې. ما هم کڅوړو ته لاس وغځاوه او هر يوه ته مې يو څه سوغات ورکړ. د ماشومانو خندا او خوشحالۍ ما ته ډېر خوند راکاوه.

ما ته خو خدای اولاد نه دی راکړی نو ځکه مې ماشومان ډېر خوښېږي. رېښتيا ماشومان خو بايد د هر چا خوښ شي. د خدای پاک او معصوم بندګان دي. همداسې مې سوغاتونه ويشل او وړاندې تلم. سترګې مې پر يوه کوچني هلک ولګېدې چې له نورو کوچنيانو څخه ليرې د ديواله کنج کې لمر ته ناست دی او په چرت کې ډوب دی. عمر به يې د څلورو – پنځو کالو په شاوخوا کې و. زړه مې وربانـدې وسو. ورنږدې شوم. ما وې د خپګان پوښتنه به هم ترېنه وکړم او يو څه سوغات به هم ورکړم. خو زما په لېدو يې له خولې يوه کړيکه پورته شوه او بېسده شو.

وار پار رانه خطا شو په بېړه مې په غېږ کې ونيو. غوږ مې يې سينې ته ورنږدې کړ. زړه يې درزېده. بيا مې غوږ پوزې ته يې ونيو. سا يې هم کښله. يو څه ډاډه شوم چې ژوندی خو دی.

له مخامخ بلاک څخه يوې ښځې چې خپل تور پړونی يې په لاس ټينګ نيولی و، زموږ خوا ته رامنډه کړه. پوه شوم چې د هلک مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. له جیب نه مې موبایل راوایست او روغتون ته مې زنګ وواهـه. په څو شـېبو کـې امبـولانس راورسـېد. هلکـی مـو امبـولانس کـې واچاوه. مور يې په خوا کې کېناسته. زه پخپل موټر کې امبـولانس پسې روان شوم.

روغتون کې ډاکترانو وويل چې ماشوم سخت وېرېدلی دی. خـو د اندېښنې ور داسې څه نشته.

د کوچني مور زما ږيرې ته اشاره کوله او پخپله ژبه يې څه ويله. زه همدومره پوه شوم چې ماشوم زما له ږيرې څخه وېرېدلی دی.

ږيره او برېتونه مې لرې کړل. د نيکولاس جامې مـې هـم لـه ځانـه وايستې. په انتظار خونه کې کېناستم. نږدې نـيم سـاعت وروسـته نرس راباندې زېری وکړ چې ماشوم په سد شو. په دې وخت کې د کمپ مسوول هم له يوه ژباړونکي سره راورسـېد. پـه ګـډه د هلـک ليدو ته ورغلو. د خوارکي رنګ بيخي تښتېدلی و. ورنږدې شوم. پر ويښتانو مې لاس ورتېر کـړ. پـه ماشـومانه ژبـه يـې کـوم څـه راتـه وويل.

ژباړونکي ما ته کړه: هلک تا ته وايي چې ماما ته څوک يې؟

_ ماما؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ هو. د افغانستان ماشومان له خپلو ماماګانو سره ډېره مينه کوي.

ـ ورته ووايه چې هو زه دې ماما يم.

همدا چې ژباړونکي زما خبره ورته وکړه، ماشوم زما لاس ونيو. خپلې خولې ته يې نږدې کړ او بيا يې ښکل کړ.

اوه خدايه! دا څومره مينه ناکه ماشوم و. ما يې هم تندی ښکل کړ. عجيبه احساس مې درلود. ګومان مې کاوه چې زړه مې ويلې کېږي. دې ماشوم مې زړه بيخي له ګوګله وايست. په زړه کې مې ورته ډېره مينه پيدا شوه.

ژباړوونکي ته مې وويل چې د هلک له مور څخه دې پوښتنه وکړي چې هغه ولې له ما څخه ډاربدلی و.

ژباړونکي د هغې کيسه داسې راوژباړله: شپږ مياشتې پخوا کله چې کور مو په کابل کې و، يوه ورځ تا

غوندې ړيرور زموږ کور ته راننوتل. هلک ويده و خو د هغوی په شور ماشور راويښ شو. ړيرورو د ده پلار ته ويل چې پيسې راوباسه خو هغه په زاريو ورته ويل چې موږ پيسې نه لرو. ما احمد ګل د کوټې په يوه کنج کې پټ کړی و. ما هغه کوله چې د زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترگې مې پټې کړم. خو هغه د پېښې ننداره کوله. څه کم یو پاو دغه لانجه روانه وه. چې ناڅاپه یوه ږیرور ماشې ته ګوته یوړه په یوه شیبه کې یې د احمد پلار اوږد وغځاوه. ظالمانو پر تندي ویشتلی و. له خولې نه یې اخ قدرې هم راونه وت. ځای په ځای یې سا ورکړه.

هغې دا وروستۍ جملې په سلګو سلګو وویلې. نور یې نو د خپلې ژړا مخه نه شوه نیولی. احمد هم له ژړا سره کړیکې کولې او زما اوښکې هم روانې وې.

د احمد مور چې ژړا یې وار په وار خبرې غوځولې، وویل: له هغې ورځې... راوروسته... چې هر وخت... ږیرور وینې... همداسې بېسده کیږي.

دغې کیسې ډېر غمجن کړم. ځان مې ګرماوه چې ولې مې د احمد په زړه کې دا تریخ یاد ورتازه کړی.

خو اوس ډېر خوښ یم چې له داسې ګلالي ماشوم سره آشنا شوی یم. اوس هغه زموږ ژبه زده کړې ده. ما شېفر ماما بولي او زه هغه ته د ده پخپله ژبه «خوریې» وایم. چې ریښتیا ووایم، ما په ټول ژوند کې له چا سره دومره مینه نه ده کړې. اوس هره یکشنبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمپ ته ځم. خوريی راسره اخلم په موټر کې چکر ورکوم. موټر يې ډېر خوښيږي. په پارکونو او مېله ځايونو کې يې ګرځوم. له دې کار نه ډېر خوند اخلم. د هغه خوشالی زما روح آراموي.

اوس مې ږيره هم پرېښې ده خو خوريی راڅخه نه ډارېږي. ما همدا غوښتل چې د هغه ذهن ته دا خبره واچوم چې ږيره هېڅ ګناه نه لري، ګناه خو د ږيرې ځينې نا اهله ښتنان کوی.

کله کله احمد راته وايي: شېفر ماما! کاشکې دا ټول ږيرور لکه تا غوندې وای.

او زه ورته وايم: کاشکې د دنيا ټول ماشومان ستا په شان مينه ناکه وای.

کابل اريا کلينيک

۰۵- ۰۳ – ۱۳۸۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ملا مې ماتـه شو ه**

له مطالعې نه ستړی شوی وم. له کوره د باندې ووتـم چـې سـياله وکړم. زموږ له کور څخه درې ـ څـلور سوه ګـزه لـرې کرونـدې وې. هلته هـوا ډېره ښـه او چوپـه چوپتيـا وه. پخـوا بـه هـم کلـه کلـه د مطالعې لپاره هلته تلم. په دې ورځ هم همغو پټيو خوا ته لاړم. څو واره مې ژوره سا واخيسته. طبيعت ډېر خوند راکړی و. د ونو سيورو ته روان وم. د پټيو منځ ته لا نه وم رسيدلی چې د زګېـرو سره مـې داسې يو غبږ تر غوږو شو: آخ! ملا مې ماته شوه.

شاوخوا ته مې په ځير وکتل خو هيڅ څوک هلتـه نـه وو. هـره خـوا مې وکتل. د ونو سرونو ته مې هم نظر واچاوه خو هلتـه هـم څـوک نه وو. سترګې مې تنګې کـړې او لاس مـې د سـترګو لـه پاسـه پـر تندي کېښود ترڅو هر څه سم ووينم خـو تـر هغـه ځايـه چـې مـې سترګو کار کاوه هيڅ څوک نه ښکاربده. ګومان مې وکړ چې ماغزه مې سـتړي شـوي دي او همداسـې مـې خيـالي غبږ اوربـدلی. پـه همدې سوچ کې وم چې بيا مې هماغه غبږ تـر غـوږو شـو: آخ! مـلا مې ماته شوه.

دا خبره راته ډېـره آشنا وه. خو نه پوهـېدم چې چېـرې او د چـا لـه خولې مې اوربدلې وه. لږ وروسته مې ذهن ته راغله چـې دا زمـوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګاونډي میرویس خان خبره وه. د تنظیمي جګړو پر مهال د هغه په کور یو توغندی لګېدلی او ځوان شل کلن زوی یې شهید کړی و. کله چې په هغه ورځ میرویس خان له ښاره کور ته راستون شو او د خپل ځوانیمرګ زوی جسد یې ولید چې په وینو کې لت پت پروت دی نو په زوره یې چیغه کړه: «آخ! ملا مې ماته شوه.» او بیا بېسده شو.

په همدې فکر کې وم چې بیا مې هماغه غږ واورېد. یو ځل بیا مې شاوخوا وڅارل. خو څوک رامالوم نه شول. فکر مې وکړ چې هسې وېرېدلی یم.

له جیب نه مې وړکی راډیو راویسته او ومې لګوله. ما وې خپل پام به غلط کړم. په دې ورځو مې خبرونه هم نه وو اورېدلي. بي بي سي راډیو مې ونیوله. خبرونه وو. اول خبر یې دا و: د بودا هغه بې ساري مجسمې چې شاوخوا یونیم زر کاله پخوا جوړې شوې وې، نن طالبانو په بم والوزولې.

دغه خبر مې چرت ډېر خراب کړ. نور مې نه څه لیدل او نه مې څه اورېدل.

راډیو هسې چالانه وه خو زه په فکر کې ډوب وم. د وخت په تېرېدو نه پوهېدم. خدای خبر چې به یو ساعت همداسې ډوب وم که لا ډېر خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغه غږ بیا په سد کړم. پورته مې وکتل مخامخ یو سپین ږیری سړی ولاړ و. اوږده سپینه ږیره او اوږدې څڼې یې وې. سر تور سر و خو یوه نرۍ ریتاړه یې پر تندي باندې تړلې وه. کمیس یې ګونځې ګونځې او لمن یې ګرده وه. د پرتوګ پایڅې یې تنګې او ګونځې ګونځې وې. په پښو کې یې تر زنګانه پورې له نیمڅي نه جوړې شوې موزې وې. چپنه یې هم له نیمڅي نه جوړه وه. پر غاړه یې د سپینو زرو یوه څلور کنجه غاړکۍ ځړېده چې د فیل یو غاښ ورپورې ټېنګ شوی و. په یوه ګوته یې ګوتۍ وه. د ګوتۍ کړۍ د سپینو زرو او غمی یې د عقیقو و. په غمي کې یې د آتنا د خدایګوتې انځور د یوه ولاړ بني ادم په توګه ښکارېده. د څرمنو پر ملاوستني یې د ژوو او الوتونکو انځورونه کېندل شوي وو. یوه ختېنه کوزړۍ لکه اوسني پتک یې تر ملا تړلې وه. پر کوزړۍ باندې هم د ګلانو رنګه انځورونه کښل شوي وو. تر شا یې لیندۍ او د غشو کڅوړه وه. په یوه لاس کې یې یوه نیزه او په بل لاس کې یې یو ډبرین ګرز و.

ملا یې کړوپه وه خو په سترګو کې یې پنځه زره کلن برم ځلېده. په زګېرو یې ویل: اخ! ملا مې ماته شوه. خپلو بچو مې ملا راماته کړه.

کجکی ۱۳۸۵؛ ۱۱؛۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د وند ویزه**

زما اټکلونه ټول غلط وختل. زما ګومان دا و چې ملي اردو کې به وند نه وي او زه چې د مقاومت پر مهال په وندونو روږدی شوی یم، بې له ونده به څنګه وکړم.

د یوه کنډک قوماندانی یې راکړې وه. هر څه د امریکایانو په لاس کې وو. پیسې، اکمالات، خریداري او ټول شیان. ما ویل امریکایان خو غلا هم نه کوي نو خپل مشاور سره به څنګه ګوزاره وکړم.

د وخت په تېرېدو سره هر څه آسانه شول. د خپل مشاور ـ روبینسن ـ په هکله مې له هغه متله کار واخیست چې وایي «شوق بچه ره پیدا کو» دغه زوی مړی د ترفیع ډېر شوقي و او د ترفیع لپاره یې باید له افغانستانه د ښې دندې د ترسره کولو ثبوت وړی وای. ډېر هوښیار سړی و. نه پوهېږم څنګه خبر شوی و چې زه په دفاع وزارت کې ډېر کسان پېژنم. چې رېښتیا شي نو مقاومت کې خو هماغه یو خدای بخښلی و چې سترګې مو ترې سوزېدلې، دا نور چې اوس ریسان او وزیران دي هغه وخت یې په یوه میدان کې راسره قمار وهل او یوه پره کې یې سګرټې راسره څکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روبينسن هم لکه چې زما په شوق خبر و. يوه ورځ يې راتـه وويـل: راځه چې انډيوالي سره وکړو. ته به ما ته د دفاع وزيـر پـه لاسـليک يو مډال واخلې او زه به په خريداري کې ستا مشورې پـه پـام کـې ونيسم.

بس ما نور څه غوښتل. د انډيوالي لاس مو سره ورکړ. ملـي اردو نوی جوړ شوی و او هېڅ شی يې نه درلود. له موبـل او فرنېچـر نـه نيولې بيا تر پيالو، ترموزونو، کمپلو، د حـمام د سـامانو، قرطاسـيې او په لسهاوو قلمه نورو شيانو پورې مو بايد بازار کې رانيـولي وای. وراره مې شيرين آغا د روبينسن ترجمان و. هغه اول له دوکاندارانو سره کتل او نرخونه يې مالومول بيا يې هغو ته ويل چې د هـر شي بيه دې په بل کې يونيم او ان دوه وارې زياتې وليکـي. د شـيانو د اخيستلو نه وروسته، زه او شيرين آغا بېرتـه دوکانـدارانو  تـه تلـو او خپلې پيسې مو ځنې اخيستې. وروسته بيا خبر شوم چې شـيرين آغا له دوکاندارانو څخه کمېشن هم اخلي او له مـا يـې پټـوي خـو څه مې ورته ونه ويل. ما وې څه پرېږده دی هم ځوان دی او د وند خو همدا لاره ده چې په وند کې وند ووهې. که له مـا نـه غـلا ونـه کړي نو له نورو يې هم نشي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ  د موټرو تلاشۍ ته تللي وو. د جلال آباد لـه خـوا  یـو لنـډ کروزر موټر ډېر چټک راروان و. ما وې په دې کې بـه خامخـا کـوم فسـاد وي نـو لـه خپلـو باډیگـاردانو سره تیـار پـه خپـل مـوټر کـې کېناسـتم. لنـډ کـروزر راورسـېد خـو تلاشـۍ تـه یـې ونـه دراوه او همداسې تېر شو. زما موټر هم ورپسې شـو. هلکـانو تـه مـې وویـل چې ډزې به نه کوئ.

لنډ کروزر د یوه کلي څنګ ته ودرېد. دوه کسان ورنه کښته شـول او په منډه کوڅې ته ننوتل. زه بیخي ورلنډ وم. هغـوی مـې نیـولی شول خو پرې مې ښودل چې وتښتي. ژر ژر مـو د مـوټر د سـیټونو لاندې او باډۍ وسپړل. د تریـاکو دېـرش کڅـوړې مـو پیـدا کـړې. پنځه لس مې ورکې پرېښودې او نورې مې یې خپل موټر کـې بـار کړې. دې وخت کې روبینسن هم راورسېد. په هیښـتیا یـې زمـا  د موټر بار ته وکتل او  ویې پوښتل: ډګرمنه!  دې تریاکو بانـدې څـه کوې؟

ما په خندا ورته وویل: ورباندې ستا لپاره مډال اخلم.

هغه هم په خندا شو  او نور یې څه ونه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار مې ډېر ښه روان و. د ونډ نورې لارې مې چا ته نـه ښـییم خـو همدومره وایم چې په یوه کال کې مـې درې پـوړیز کـور جـوړ کـړ. موټرونـه مـې واخیسـتل او څـو شرکتونـو سره شریـک هـم شـوم. د روبینسن غم مې هم کړی و. د ورېښمو یوه دولس گزي غالۍ، څو افغاني ښځینه کمیسونه او یو څو اوسپنیزې مجسـمې چـې مـا پـه دوو روپو هم نه اخیستلې خـو د هغـه خوښـې شـوې وې، ورتـه پـه ډېرو پیسو اخیستې وې.

کال پوره شو او روبینسن بېرته امریکې ته ستنېده. لـه وعـدې سره سم ما د دفاع  له وزارت څخه ورته یو مډال واخیست چې پر کاغذ یې د دفاع وزیر لاسلیک کړی و.

د هغـه لـه تلـو څخـه څـو ورځـې مخکـې نـوي مشـاوران راغلـل. روبینسن زه هغو ته داسې معرفي کړم: ډگرمن جان آغا ډېـر تکـړه، پوه او صادق قومندان دی او په ملگرتیا کـې خـو بیخـي جـوړه نـه لري.

د دې خبرې سره یې ما ته وکتل او سـترگه یـې راتـه ووهلـه. دواړو کټ کټ په خندا شوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

روبینسن د مخه ښې پر مهال د نوي مشاور لاس زما په لاس کې راکړ او ویې ویل: ما له جګړن بلک سره خبره کړې. هماغه تړون چې زما او ستا تر منځ و، ستا او د ده تر منځ به هم پاته شي.

په داسې حال کې چې د درې واړو په څېرو کې مو د بري او خوشالي نښې جوتې وې، یو د بل تر غاړې ووتو او روبینسن مو رخصت کړ. نو څو پورې چې زموږ ملک ته د ترفیع شوقیان راروان وي، زموږ د وند ویزه هم نه ختمېږي.

کابل

حیات افغان _ هند روغتون

۲۹ _ ۰۵ _ ۱۳۸٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عسکري کې منطق نشته

د نظامي روغتون د نفراتو آمر عبدالقدير حيران و چې څه وکړي. د نفراتو ريس ورته امر کړی و چې د روغتون تشکيل به داسې جوړوي چې د قومونو تر منځ انډول په کې مراعات شي. د نفراتو ريس ورته يو فورمول هم ورکړی و. فورمول داسې و چې په هره برخه کې دې په سلو کې پنځه ديرش پښتانه، پنځه ديرش تاجکان، او ديرش نور لږکيان مقرر شي.

خو ډاکترانو دا خبره نه منله. د روغتون علمي مرستيال او درې تنه ډاکتران د نفراتو مسول سره د نفراتو د ريس دفتر ته ورغلل. له ډېر انتظاره وروسته د نفراتو ريس هغوی خپل حضور ته ومنل. هغوې وويل چې په اداري څوکيو کې دغه فورمول تطبيقېدای شي خو په علمي او مسلکي چارو کې نه کيږي. د طب په برخه کې چې د انسان له ژوند سره سروکار لري خو بايد يوازينی معيار پوهه او وړتيا وي، نه قومي تړاو.

خو د نفراتو ريس همدا يوه خبره ټينګه کړې وه چې قانون استثنا نه مني او بايد په هره برخه کې يو شان تطبيق شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکترانو بیا هم پخپلو وړاندیزونو ټینګار وکړ. خو د نفراتو ریس په پای کې وویل: «په عسکري کې منطق نشته»

څو ورځې وروسته د ریس فورمول پلی شو. د فورمول له مخې په جراحي سرویس کې هم باید دوه تنه متخصصان د لړکیو څخه تاکل شوي وای. خو په دغه لړکیو کې د جراحي متخصصان څه چې آن عادي ډاکتران هم نه پیدا کېدل.

عبدالقدیر د نفراتو ریاست ته رپوټ ورکړ. خو له هغې خوا بیا هم د فورمول په پلي کولو جدي ټینګار وشو او دا هم وویل شو چې که چېرې په دې لړکیو کې ډاکتران نشته نو کولای شي د هغوې نرسان په دې څوکیو وګوماري. په پای کې همداسې هم وشول. د یوې اونۍ لټون څخه وروسته په ډېر مشکل په دې لړکیو کې دوه کسان پیدا شول چې د نرسنګ دوه کلن کورسونه یې لوستي وو او په تشکیل کې د متخصص جراحانو په بست کې ونیول شول.

د عبدالقدیر جنجال خو په دې توګه خلاص شو خو د ډاکترانو تر منځ لانجه اوس شروع شوه. هغوې ویل دا دوه تنه نرسان چې د متخصص ډاکترانو په بست کې کار کوي او د متخصصانو امتیاز اخلي نو باید په نوکریوالي کې هم د متخصصانو په لیست کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیول شي. آخر کې دغه لانجه هم غوڅه شوه او نرسان د متخصصانو د نوکریوالي په لیست کې ونیول شول.

یوه شپه چې د همدې نرسانو څخه یو تن نوکري و، د شپې د یوولسو بجو په شاوخوا کې د نفراتو ریس چې پر نس باندې یې سخت درد و، روغتون ته راوستل شو. نوکریوال ډاکتران په بېړه ورغلل چې هغه وګوري. له دود سره سم اول د داخلي نوکریوالان وروغوښتل شول. هغوې چې د نفراتو ریس معاینه کړ، ویې ویل چې ریس اپندیسیت دی او باید د جراحي نوکریوال له خوا تداوي شي. خو د جراحي نوکریوال په دې لټه کې و چې ځان خلاص کړي او د ناروغ تداوي پر داخله ډاکتر ور واړوي. همدا و چې د ناروغ د کتلو نه وروسته یې وویل: وروره! دا مریض داخلې پورې اړه لرې. ما ورنه پوښتنه وکړه. ویل یې چې پرون یې ګاز پاس کړی دی (باد یې پرې شوی) نو څنګه به اپندیسیت وي؟

خو د داخلې نوکریوال ورته وویل: ته راشه! زه به درته وښیم چې په ناروغ کې د اپندیسیت ټول اعراض او علایم مثبت دي.

پس له ډېرو چنو جراحي نوکریوال مجبور شو چې د مریض تداوي په غاړه واخلي. ته مه وایه چې تر څو د جراح او داخلهچي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر منځ لانجه غوځېدله، د ریس اپندکس چاودلی او میکروب یې په ټول نس کې تیت شوی و. دا وخت د شپې درې بجې وې چې د نفراتو ریس یې عملیاتخانې ته داخل کړ. په دې شپه د جراحي د نوکریوال قسمت بیخي خراب و. له یوې خوا له وخیم ناروغ سره مخامخ و او له بلې خوا د جراحي نور نوکریوالان ټول د کوم بل ډاکتر واده ته تللي وو او دی بیخي یوازې و.

بس وایي چې له پېښې نه تېښته نشته. د نفراتو ریس یې د عملیات پر مېز واچاوه. د انستیزي نوکریوال مریض ته بیهوشي ورکړه او د عملیات وار ورسید. هغه حیران و چې څه وکړي. د عملیاتخانې نرس ورته وویل: آمر صایب! نورو جراحانو خو به د داسې مریضانو نس د سینې له هډوکي نه نیولې ان تر سپوغه پورې څیرل. نو ته هم همداسې وکړه.

هغه هم چاړه راوخسیته او د نرس په لارښوونه یې د مریض ټول نس وڅیره. په دې وخت کې د غوځ شوو رګونو څخه وینې وبهېدې. د هغه رنګ وتښتېد. خولې پرې راماتې شوې. حیران و چې څه وکړي خو بیا هم د عملیاتخانې نرس لاس په کار شو او ژر ژر یې د غوځ شوو رګونو سرونه په یوې برقي آلې باندې وسیزل. د عملیاتخانې د نرس کمال هم همدوره و. تر دې وړاندې هغه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه نشو کولی. اوس نو دواړه حیران وو چې څـه وکـړي. د مـریض نس د ملنګانو د کجکول په شان خلاص پاتې و او د خیر سـوالونه یې کول.

د نوکریوال په ماغزو کې ناڅاپه یو فکر د برېښنا په څېر وځلیـد. د جراحي لاسپوښونه (دستکشونه) یې وکښل. ځنګ کـوټې تـه ولاړ. د پتلون له جیب نـه یـې موبایل راویسـت. یو نمبـر یـې دایـل کـړ. خو له هـغې خـوا کمپیـوټر وویـل: «دغـه نمـبر والا سـړی خـارج د ساحې سفر کړی. وروسته زنګ ووهئ»

بل نمبر ته یې زنګ وواهه خو بیا هم کمپیوټر ځواب ورکـړ: «د دې خبرتیا له اورېدو څـخـه وروسـتـه خپـل پیغـام کېـږدئ»

په هـمدې توګه لسګـونـو شمېــرو تــه یــې زنګـونــه ووهــل خــو د موبایل کمپنیو هم د ده له قسـمت سره لاس یـو کـړی و او د ټولـو کړو ګناهـونو کساتونه یې ځنې اخیستل.

څـه سـر به مو خـوږوم شپه تر سهاره هـمداسـې تـیره شـوه. سـهار چـې رسمیات شـروع شــول او نـور ډاکـتران راورسېــدل. د ریـس روح  اسمان ته ختلی و. د ورځـې په یوولسـو بجــو بانـدې د ریـس جنازه خاورو ته وسپارل شـوه. د یوه دولتي فرمان په ترڅ کې ورتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «بچۀ سقاو » مډال ورکړل شو. یو بل منصبدار د هغه ژوندلیک ولوست چې په پای کې یې ویل شوي وو:

ریس صاحب دومره قانوني سړی و چې آن خپل ژوند یې هم د «قانون استثنا نه مني» تر مقولې قربان کړ.

خو ډاکترانو ویل چې د نفراتو ریس د خپلې هغې خبرې قرباني شو چې ویل یې «په عسکري کې منطق نشته.»

هلمند کجکی

۲۸ . ۸ .۱۳۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خیرات

درې کاله کیږي چې د وړکتون مدیره یم. دا چې څنګه مې دغه څوکۍ ونیوه، بېله خبره ده. اولو ورځو کې به مې ځان سره ویل چې تا خو په ټول ژوند کې یو ساده ماموریت هم نه دی کړی نو مدیریت به څنګه کوې؟ چې ریښتیا شي مکتب مې ان لس کاله پخوا تر نهمه پورې ویلی و. بیا وروسته مې یو چا ته پیسې ورکړې هغه د دولسم صنف شهادتنامه راته جوړه کړه. اوس هغه درسونه مې ټول هېر شوي دي. حیرانه وم چې څه به کړم. خو په دې دریو کلونو کې مې تجربه دومره زیاته شوې ده چې اوس وزارت هم راته اسانه برېښي.

په لومړۍ ورځ چې وړکتون ته لاړمه، ښوونکې او خاله‌ګانې مې خپلې شعبې ته راوغوښتلې. په ډېره عادي لهجه مې باتې شروع کړې: «ما دا مدیریت چیرته کاوه، خو څه وکړم دا د وړکتونونو ریسه نه ده، دا خوارکۍ ډېره را ته ټینګه شوه. ویلې دا ډېر مهم وړکتون دی زه پر بل چا اتبار نشم کولای او داسې لکه تا غوندې بله تکړه مدیره چېرته پیدا کیږي.»

یوې ښوونکې غوښتله چې څه ووایي خو لا یې خوله خبرو ته نه وه جوړه کړې چې ما خپلې خبرې داسې وغځولې: «مجبوره یې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه به مې کړي وای؟ د خاله د لور خبره څوک پر ځمکه غورځولی شي چې بیا دې ډېره صمیمي خورلنه هم وي.»

له تاسو به یې څه پټوم، ریسه خو مې ولله که په رنګ هم لیدلې وي چې توره ده که سپینه. هسې مې خلک ډارول. باور وکړئ چې دغو خبرو مې معجزه وکړه. زه کراره د خیر پر غونډۍ کېناستمه. زما کارونه نورو ښوونکو تر سره کول. نه له حاضرۍ خبره ومه، نه له راپوره. صادره- وارده، د مکتوبونو او استعلامونو لیکل او استول، محاسبه او لنډه دا چې هر څه پخپله تر سره کېدل.

هرې ښوونکې به په خپله خوښه راته دا کارونه کول. خو ما هم د هغوی زحمتونه بې مجرا نه پرېښودل. هرې ښوونکې ته مې په اونۍ کې یوه ورځ په خپل صلاحیت رخصت ورکاوه. هغوې هم ډېرې خوشحالې وې. یو څه موده چې تېره شوه، استخباراتي کار مې شروع کړ. هغه داسې چې خاله‌ګانو ته مې وویل چې ټولې ښوونکې دې وڅاري او هرې یوې چې یې زما په هکله کومه خبره وکړه، ما ته دې ووایي. په بدل کې به یې ما یو څه لرګي او یا نور توکي ورکول چې خپلو کورونو ته یې یوسي. دغه تدبیر مې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره ښه نتیجه ورکړه. د ټولو ښوونکو په زړونو زما وېره خپره وه. هېچا جرات نه کاوه چې په ما پسې خبرې وکړي.

د هري ورځې په تېرېدو سره زما تجربه لا پسې زیاتېدله. دا مې هم زده کړه چې ځنګه د حاضرو ماشومانو له شمېر څخه دوه چنده زیات په راپور کې ولیکم او د خوراکي توکو نیمایي برخه ځان ته وساتم. تاسو ته خو مالومه ده چې په وړکتونونو کې د ماشومانو لپاره له وچو شېدو نه نیولې بیا تر بورې، غوړیو، وریجو، لوبیا او ډېرو نورو شیانو پورې هر څه پریمانه وي. هره پنجشنبه له غرمې نه وروسته چې په وړکتون کې هېڅ څوک نه پاتې کېدل، مېړه به مې خپل موټر راوست. د خاله په مرسته به مې ټول زېرمه شوي شیان په موټر کې واچول. یو څه به مې خاله ته هم ورکړل. په کور کې مو د هر شي لپاره جلا جلا کندوان وو او چې له کندوانو څخه به هم زیاتېدل هغه به مو پر دوکاندارانو خرڅول. څو میاشتې مې دغه کار په ډاډه زړه وکړ. خو یوه ورځ خاله راته وویل: مدیره صایب! دا ښوونکې نه دي، دا خپلو کې یو څه څه سره وایي.

ـ څه سره وایي؟ سمه خبره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ هېڅ، بس همداسې سره وايي چې دا اضافي مواد باندې څه کېږي.

ـ تا ورته څه ونه ويل؟

ـ نه نو ما به څه ويلي وای. هغه ټيټکی نه ده ...

ـ څوک. زرغونه خو به نه يادوې؟

ـ هو هماغه. هغې ويل چې مواد خو به خامخا مديره خپل کور ته وړي. نور څوک خو يې وړای نشي.

ـ هغوې پسې مه ګرځه. چاره يې اسانه ده.

سبا مې د رخصتۍ پر مهال ټولو ښوونکو ته يوه – يوه کيلو وچې شېدې او همدومره بوره ورکړل او ورته مې وويل چې دا مواد اضافه وو. ما وې پر تاسو به يې وويشم چې خپلو بچو ته يې يوسئ. بس همدا و چې د ښوونکو خولې پټې شوې او زه بيخي بېغمه شومه.

خو نن يوه بله ټکه راپرېوته. د پنجشنبې ورځ وه. مېړه مې په دوو بجو خپل موټر راوست. موټر مو د وړکتون د انګړ دننه ودراوه. خاله او مېړه مې راسره لګيا شول. په بېړه مو زېرمه کړي شيان موټر ته واچول. مېړه مې جلو ته کېناست. خاله لاړه چې دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاصــه کــړي. همــدا چــې دروازه خلاصــه شــوه ســترګې مــې د وړکتونونو پر معاونې ولګېدې چې لـه اداري مـديرې سره د دروازې شا ته ولاړه وه. اوه خدايه! دا څه لوبه راباندې وشوه. اوس بـه څـه ځواب ورکړم.

مخې ته يې ورغلم. ښه راغلاست مې ورته ووايـه. غـږ مـې لړزېـده. زړه مې درزېده او ټول بدن مې رېږدېده. پر تندي مې يخې خولې راماتې وې.

هغوې لکه چې چا ورته ويلي وي، سيده د موټر خوا ته ورغلې.

معاونې په تونده ژبه پوښتنه وکړه: موټر کې مو څه بار کړي دي؟

ژبه مې بنده بنده کېده. ځواب مې ورکړ: هېڅ... بـس... هغـه... څه شی دي... هغه اضافي مواد دي صايب.

_ اضافي مواد؟ اضافي مواد له کومه شول؟

_ معاونه صايب... هغه... هغه داسې ده... داسې ده چې کله کله به ماشومانو غيرحاضري کوله کنه.

_ نو بيا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ بیا به موږ په راپور کې... صایب په راپور کې به مو حاضر نیول.

ـ دې ته وایي عذر بدتر از گناه.

په دې وخت کې مې مېږه له موټره راکوز شو. زړه کې مې وویل چې څه د ده ژبه خو تېزه ده، له جنجاله به مې خلاصه کړي. خو معاونې هغه ته هم په آمرانه لهجه وویل: ته نه شرمېږې چې د ښځې غلا ته دې ناست یې؟

د هغه ژبه هم پڅه شوه. ویې ویل: والله... خورې... داسې ده... داسې ده چې

ـ ما خو اورېدلي دي چې ته په کومه موسسه کې پنځه سوه ډالره معاش لرې.

ـ هو... خورې. همداسې ده.

ـ نو بیا غلا ولې کوې؟

ـ والله... نو څه ووایم.

زما داسې قار ورته راغلی و چې د ده ژبه خو دومره تېزه وه چې د همدې ژبې له برکته په موسسه کې مقرر شوی و که نه نو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمال خو والله که ولري خو اوس څه بلا وهلی چې خبرې نشي-
کولای.

معاونې بیا ما ته وویل:

_ ته څنگه نه شرمېږې چې د ماشومانو حق خورې؟

اداري مدیرې وویل: چې یو ځل یې ښاروالۍ ته معرفي کړو بیا
به وشرمېږي.

په همدې وخت کې مې یوه خبره په ذهن کې لکه برېښنا
وځلېده ورته مې وویل: خیر دی معاونه صایب. مه مې ځوروئ.
تاسې خو هم لویه خېل خانه لرئ. زه خبره یم چې ستاسو مېلمانه
هم ډېر دي. دغه مواد به تاسو ته _ تاسو دواړو ته به درکړم. خو
چې ښاروالۍ ته مې ونه لېږئ.

معاونې ویل: ته غواړې چې موږ هم په دې غلا کې درسره شریکې
شو؟

_ نه... نه... خدای دې نکړي... معاونه صایب دا... دا مواد خو
هسې هم اضافي دي کنه... صایب مصرف یې وختي تېر شوی نو
ولې به غلا وي؟ دا خو ستاسو حق دی.

_ نه. نه. په دومره کې مواد به زموږ رنگ نه بدوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې لیدل چې لهجه یې یو څه نرمه شوې نو جرات مې زیات شو. ورغبرگه مې کړه: ولې به دومره‌کې وي؟ هره میاشت کې به همدومره مواد در ورسېږي.

اداري مدیرې وویل: گوره معاونه صایب! دې خوارکۍ خو هم والله که بده خبره کړې وي. دا بېچاره هم آبرو لري. ولې یې بې پته کوې؟ پرېږده چې خپله غریبي وکړي. څارنوال ته به یې څشته ولېږو؟ هسې چې ریښتیا شي، په دولت کې څوک دي چې غلا نه کوي؟

معاونې وویل: څه خیر! ستا په خاطر به یې له گناه څخه تېره شم. خو ...

اداري مدیرې زما خوا ته وکتل او د معاونې خبره یې ورپوره کړه: خو چې پخپله وعده وفا وکړي.

په چټکۍ سره مې وویل: صایب بېغمه اوسۍ. هره میاشت کې به مو برخه پخپل موټر کې در ورسوو.

مېږه مې د موټر شاتنۍ دروازې ورته خلاصې کړې او ویې ویل: راځۍ موټر کې کېنۍ. زه به مو مواد درسره یوسم او د بل وخت لپاره به مو کورونه هم ووینم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوې په موټر کې کېناستلې او په داسې حال کې چې موسکۍ موسکۍ کېدلې، خدای پاماني يې راسره وکړه.

زه په بېړه کورته لاړمه او د تېرې اونۍ له موادو څخه مې يوه خوندوره حلوا پخه کړه او د خيرات لپاره مې د باندې ولېږله. له ځان سره مې وويل: څه شکر دی چې بلا وه خو برکت يې نه و.

کابل ـ اريا کلينيک

۱۳۸٦ - ۰۳ - ۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فرهنگ او سیاست

یو چا د «ډي ان اي» دفتر ته وربللی وم. هلته یو ورکشاپ و. چې ورغلم، کتل مې چې د نويو جوړو شويو گوندونو د سر کسان ټول حاضر دي. نه پوهېږم چې زه يې ځنګه دعوت کړی وم. زه خو نه په کوم گوند کې وم، نه کوم سازمان کې. يوازې مې کله کله سياسي ليکنې کولې.

ټولو لوکسې دريشۍ اغوستې وې. ښکلې نيکټايۍ يې تړلې وې. د عطرو بويونو خو يې ټوله کوټه په سر اخيستې وه. يوازې زه په خت پرتوگ کې وم. د کوټې اخر سر ته لاړم او په يوه کنج کې کېناستم. ما وې چې څوک مې ونه شړي. پس له يو څه انتظاره يو دنگ شين سترگی سړی کوټې ته راننوت. يو ساده کوبای پتلون يې د يوه بې لستوڼي کميس سره اغوستی و. ترجمان يې تر ده ډېر لوکس و. ځان يې داسې را وپېژاند: زه جېمز واکر د امريکا په خارجه وزارت کې د سياسي گوندونو په ډيپارتمنت کې کار کوم. نن تاسو ته د سياسي گوندونو تر منځ د ايتلاف په هکله يو څو خبرې کوم.

د دې په ويلو سره سپينې دړې خوا ته لاړ او په انگرېزي باندې يې وليکل: ايتلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا يې ټولو ته په ځير وکتل.

ترجمان ته يې وويل: زما له بکس نه کاغذ او قلمونه راوباسه او پر دې څو کسانو چې قلمونه نلري، ويې وېشه.

همدا چې ترجمان د قلمونو پر وېشلو پيل کړ، ومې ليدل چې ټولو خپل قلمونه بېرته خپلو جيبونو ته واچول او هر يوه يې ترجمان ته ويل چې:

ـ ماته هم راکړه.

ـ يگ دانه بر مام.

ـ دې خوا ته وگوره.

له کوټې نه حمام جوړ شو.

د جېمز خوله وازه پاتې وه. شاوخوا ته يې حيران حيران کتل.

تاسو څه فکر کوئ چې دا قلمونه څه ډول وو. پارکر؟ شيفر؟ يا کوم بل ډول گران بيه قلم؟

نه بابا ساده بېک قلمونه وو چې ښار کې په پنځو افغانيو خرڅېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې وخت کې څنګ ته مې ناست سړي ته فکر شو چې د قلم په اخیستلو دومره خوشاله و چې خوله یې جینګه پاتې وه. سوټ بوټ یې ښه برابر و. ږیره او برېتونه یې هم پاک خرییلي وو. خو تر لاندنۍ شونډې نه یې لاندې یو غټ تک تور مچ ناست و. لاس مې وروغځاوه چې مچ ترینه وشړم. بد بد یې راته وکتل او ویې ویل:

ـ چې میکنې؟

ـ هیڅ وروره ما وې چې دغه مچ به درنه وشړم.

ـ او بې فرهنګ اې ریش اس یا منګس؟

ـ اوه ورورکه بخښنه غواړم. دا ږېره خو دې ما ته بیخي لکه مچ غوندې ښکارېده.

ـ ادم کوهې!

زړه کې مې وویل چې کوهې خو ریښتیا چې یم او په دې که نو څه عیب دی. سمې خو هسې هم زورواکو لاندې کړي دي. موږ بیچاره‌ګان خو مجبوره یو چې په غرونو کې واړوو. خو دا بې فرهنګ یې نو ولې راته وویل. که د داسې ږېرې لرل فرهنګ وي خو ریښتیا هم بې فرهنګ یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بل سړکی راغی. کاغذ او قلم یې په لاس کې و. له یوه سره یې د ناستو کسانو نومونه لیکل. د هر چا مخې ته به چې ودرېد، هغه به ځان ورته معرفي کاوه:

_ بکتاش پیکار گرا ریس حزب جوانان فېشن گرا

_ رحمان قل جوشان معاون حزب رفاه برای شمال

_ فروزان فرزانه فر حزب مترقي ارايش

_ داریوش قبادیان حزب مشارکت فرهنگي

_ عبدالستار سنتیار مسلمانیک گوند

د «مسلمانیک» کلمه راته عجیبه غونډې ښکاره شوه. خو بیا یو چا راته وویل چې د مسلمانیک «ایک» د ډیموکراتیک له «ایک» څخه اخیستل شوی.

خیر. جیمز په اوتو بوتو سر شو. داسې خبرې یې کولې چې ته وا موږ ورته ماشومان ښکارېدو. ویل یې چې: «د ایتلاف گټه دا ده چې انرژۍ مو پر څو برخو نه وېشل کیږي او که چېرې ایتلاف سره وکړئ نو انتخابات گټلې شئ. خو د ایتلاف اول شرط دا دی چې ایتلاف کوونکي باید سره گډې موخې او گډ نظریات ولري.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه کې مې ووېل چې موږ د داسې ګوندونو او تنظیمونو ایتلافونه لیدلي دي چې یو د بل وینو ته هم تږي دي، یو د بل په زرهاوو تنه یې سره وژلي دي او نن په یوه کاسه کې ډوډۍ خوري. نو ته څه راته لګیا یې او د ایتلاف درسونه راکوې؟ موږ پخپله په دې کار کې استادان یو. ته وایې ایتلاف کوونکي باید سره ګډې موخې ولري. خو موږ تور، سپین، سور او شین سره ګډوو او بیا نو برګ برګ کېږو.

د جېمز په خبرو کې یو ټکی هم نه و چې په یادداشت کولو دې وارزي. خو ټول ناست کسان بوخت وو او قلمونه یې پر کاغذو خوځېدل. ما وې ته ودرېږه چې دوې څه شی لیکي. یوه ته مې سر ورنږدې کړ. که ګورم چې د خپلې امضا پرېکټس کوي. ټوله پانه یې په امضاګانو ډکه کړې وه. یو بل تن بیا داسې ښکارېده چې پر خپل نوم به مین وي، د کاغذ مخ او څټ یې په خپل نوم ښایسته کړی و. ځنګ ته مې ناست فرهنګي چې زه یې بې فرهنګه بللی وم، یو زړه کښلی و چې په غشي سوری شوی. د وینو له څاڅکو ځخه یې لښتی بهېدلی او د پاڼې په اخر کې په سیند بدل شوی و. ما خو بیالوژي کې لوستلي وو چې د انسان د بدن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله وينه پنځه ليټره کيږي نو دا به د کوم ځناور زړه وي چې دومره ډېره وينه لري؟

جېمز د خپلو خبرو په پای کې وويل: ښاغلو! په ځنګ کوټه کې ډوډۍ تياره ده. مهرباني وکړئ.

د ټولو په څېرو کې د خوشحالۍ بريښنا وځلېده. زه تشناب ته لاړم چې لاس پرېمينځم. خو چې بېرته راغلم «نه دي د ويلو هغه څه چې ما ليدلي دي» پر مېزونو باندې بريد و. داسې ښکارېده چې دا ټول خلک له وريجو څخه پرهېز دي او يا خو چا قسم ورکړی چې پرته له غوښې دې بل څه نه خوري. خوړل کاشکې وای. نه پوهېږم چې داړل وو که چيچل وو. اوس که ووايم چې د داړونکو په څېر يې پر غوښو حملې کولې خو ما به هم ملالۍ جويا غوندې پسې واخلئ. تر ټولو جالب خو هماغه فرهنګي و د چرګ ورنونه يې يو په بل پسې پورته کول. په داسې بېړه يې شخوند واهه چې ته وا د ټېکې کار دی.

ورون به يې په دواړو لاسو ونيو او په جينګو غاښو به يې وداړل. په دې وخت کې جېمز هم راغی خو د فرهنګي په ليدلو بېرته په بېړه ووت. څو شېبې وروسته په منډه راغی. يوه ډيجيټله کمره يې په لاس کې وه. د فرهنګي عکسونه يې په داسې حال کې واخيستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د یوه ورون غوښې یې خلاصې کړې او پر هډوکو یې شخوند واهه. جېمز فرهنګي ته پرله پسې تنکیو تنکیو ویل. فرهنګي هم خپل موټی شوی لاس چې غټه ګوته یې نېغه نیولې وه، جیمز خوا ته ښوراوه او تنکیو تنکیو یې ویل.

څه به ووایم. د فرهنګیانو او سیاستوالو د دې حال په لېدو مې اشتها بنده شوه. فرهنګ او سیاست دواړه مې هغوې ته پرېښودل او خپله لاره مې ونیوه.

کابل

۰۷ - ۰۳ – ۱۳۸٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کلتوري يرغل

جانو چې په يوه موسسه کې د انگـريـزي ژبې ترجمان شو، نوم يې لـه جانو څخه په جان محمد بدل شو. پخوا به ان خپل مور او پلار هم جانو باله خو اوس چې هغه ځان ته يـو تخلـص هـم پيـدا کړی و نو ټولو «ځانگړی صاحب» باله.

هـغه دا تخلص په دې خاطـر غوره کړی و چې غـوښتل يـې هـر څـه يې ځانگړی وي او له نورو نه توپير ولـري نـو همـدا و چـې د ويښتانو له ډول نه نيولې بيا تر کاليو، عينکو، او بوټـونو پـورې هـر څه يې ځانگړي شول. که د نورو بوټونه پنډ پنډ وو نو د ده به نرۍ څوکې والا وو. که نورو ځوانانو پينه يي پتلونونـه اغوسـتل نـو د ده بـه بيخـي شـلېدلي وو. کـه همـزولي يـې پيپسيـ څښـلې، د ده څښاک به بير و. دی په خوراک، څښاک، خبرو اترو او خلاصه چې په هر څه کې له نورو نه جوت توپير پيدا کړی و.

يوه ورځ د هـمـدغسې ځـانگړو شيانو په خـوړلـو ورته د نـس درد او خـواگـرځـی پيدا شـو او دی يې مجـبور کـړ چـې د ډاکترانـو کتنځيو ته مخـه کـړي. د عـادت لـه مـخې ده غوښـتل چـې کـوم ځانگړي ډاکتر ته ورشي، نه کوم عادي ډاکـتر تـه. نـو ځکـه يـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکترانو د لـوحـو په لوستلو پیل وکــړ. لـه یوه ساعت وروسته یــې یوه ځـانـګـړې لوحـه ولیدله چې پرې لیکل شوي و:

رنځور زیب ډاکتر ناروغمل

متخصص امـراض قلـب، شـش، معـده، ګـرده، روده، جګـر، کیسـه صفرا، قبرغه، مثانه...

تحصیلات عالي در هندوستان

د لوحې اخري لیکه په سره رنګ لیکل شوې وه. تر څو د لرې نه د خلکو په سترګو ولګېږي. جانو له ځانـه سره وویـل: یـاره ځانګړیـه! ځانګړی ډاکتر دې وموند. بس ورځه او ځان وربانديې ګوره.

جانو د کتنځي خوا ته چې د یوې ودانۍ په دریم پوړ کـې و، روان شو. د تنګو او تیارو پوړیـو څخـه چـې د نـم بـوی یـې د سـړي سـا بندوله، پورته شو او کتنځـي تـه ورسـېد. لــه نـیم سـاعت انــتظاره وروسته د ده وار ورسېد. جانو له ځـانه سره وویل چې ډاکتر خو په هندوسـتان کـې تحصـیل کـړی او هلتـه خـو ټـولې زده کـړې پـه انګریزي ژبه کیږي نو راځه ته هم خپله انګریزي وربانديې «ټــرای» کړه. کتنځي ته له ننوتو سره سم یې وویل: «هلو! ګوډ افټرنون»

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته له دې چې د ډاکتر ځواب ته تم شي، په ګړندۍ ژبه يې ادامه ورکړه: آی هف ا پرابلم وېد مای ابډومن آی هف ستهوماک اېک، نازيا اينډ وميتېينګ اينډ آلسو ډياريا.

I have a problem with my abdomen. I have .stomachache, nausea and vomiting and also diarrhea

ناڅاپه متوجه شو چې ډاکتر ورته داسې حيران حيران ګوري چې ته وا په دواړو غوږو کوڼ دی او بيخي اوري نه. نو ويې ويل: ډاکتر صاحب په انګريزي نه پوهېږې، که څنګه؟

- نه مې پلار انګرېز دی او نه مې مور انګرېزه ده. نو انګرېزي به مې ولې زده وي؟

_ تا خو تحصيل په هندوستان کې کړی.

_ هو کړی مې دی. نو څه؟

_ هلته خو درسونه په انګرېزي ژبه وي نو ستا څنګه نه ده زده؟

ډاکتر په داسې وارخطايۍ لکه چې لاس په لاس په غلا نيول شوی وي، وويل: هو... هو... رېښتيا درس خو مې په هند

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ویلی. خو هغه وخت هلته انګرېزي نه چلېده. هر څه په اردو ژبه وو.

جانو په سپین سترګي سره وویل: چل کویي بات نهي مې آپ کو اردو مې بتاتاهو. بات یې هې که میري پېټ مې درد هې، اولټي آرهي هې اور...

ډاکتر جانو پرې نه ښود چې خپله خبره پوره کړي او په داسې حال کې چې رنګ یې سور اوښتی و، خو غوښتل یې چې خپله وارخطایي پټه کړي، وویل: وروره! دا د پردیو ژبې څه کوې؟ راځه چې په خپله ژبه سره وغږېږو. اوس نو ووایه څه تکلیف لرې؟

جانو چې په خبره پوه شوی و، وویل: نس مې خوږیږي. خوا مې ګرځي، قی وهم او د نسه هم خراب یم.

ډاکتر د جانو فشار وکوت او یوه اوږده نسخه یې ورته ولیکله. جانو نسخه واخیسته او له کتنځي نه ووت. خو دوا یې وانخیسته.

یوه اونۍ وروسته جانو ښار ته لاړ. ویې لېدل چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت مخې ته ډېر کسان سره راټول شوي وو چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونو یې شعارونه پورته کړي وو. د ټولو نه مخکې یو سـړی ولاړ و چې پرله پسې یې دغه شعارونه ورکول:

دولت دې د کلتوري یرغل مخه ونیسي!

دولت دې پر هندي فلمونو بندیز ولګوي!

موږ نه غواړو چې ځوانان مو د پردیو ژبې زده کړي!

جانو چې ښه وړاندې ولاړ، ویې لیدل چې هماغه ډاکتر ناروغمـل دی چې شعار ورکوي.

کجکی ۱۳۸۵ – ۱۱ - ۱۱

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library